# معادن

د کانونو او پټرولیم وزارت
نشراتي ارګان

## دویمه دوره: لومړۍ ګڼه

درې میاشتنۍ



### په دغه ګڼه کې

_ دا مهال زر شرکتونه د کان کیندنې په بېلابېلو برخو کې کار کوي

_ زمرد پنجشیر منحیث متاع قیمتی پول نقد می آورد

_ د ټاپي پروژې عملي چارې به د اپرېل په میاشت کې پیل شي

_ د لس میلیارده افغانیو په پانګونې سره د څلورو کانونو قراردادونو لاسلیک

_ در طی دو سال گذشته به تعداد ۱۱۶ معادن کوچک قرارداد گردیده











# فهرست مطالب

سرمقاله:........................................................................................................................................۱
پیام تبریکی:....................................................................................................................................۲
چگونه کیفیت محیط زیست میتواند اقتصاد ما را تقویت کند؟:.....................................................................۳
بیانیه سرپرست وزارت معادن و پترولیم در ولایت هرات:................................................................................۴
د افغانستان د کانونو په هکله د تر سره شویو بولیو، ترونونو او پانګوالو سره د مشرتابه د لیدنو او کتنو غورچاڼ:........۵-۲۰
د تاپي پروژې په اړه مصاحبه:...........................................................................................................۲۱-۲۲
معادن آهن در افغانستان:...............................................................................................................۲۳-۲۴
دا مهال زر شرکتونه د کان کیندنې په بېلابېلو برخو کې کار کوي:.......................................................................۲۵-۲۶
زمرد پنجشیر منحیث متاع قیمتی پول نقد می آورد:...........................................................................۲۷
افغانستان کې د ځمکې نادره اوکم پیدا عناصرو اقتصادي اهمیت لرلید:...................................................۲۸-۳۴
به تعداد 35 معادن بزرگ رابه سرمایه گذاری مبلغ 10 میلیارد دالر امریکایی به قرارداد سپرده است:.............................۳۵-۳۸
حوزه های نفتی و گاز دار افغانستان:.................................................................................................۳۹-۴۰
کانونه د اسلام له نظره:.................................................................................................................۴۱-۴۲
فرهنګي برخه:...........................................................................................................................۴۳-۴۸
د تاپي پروژې عملي چارې به د اپریل په میاشت کې پیل شي:................................................................۴۹-۵۰
د لس میلیارده افغانیو په پانګونې سره د خلورو کانونو قراردادونه لاسلیک:..............................................۵۱-۵۲
در طی دو سال گذشته به تعداد 116 معادن کوچک قرارداد گردیده:.........................................................۵۳
د کانونو او پټرولیم وزارت د لومړي ځل لپاره د پولي تخنیک پوهنتون د تېر کال د فارغو انجنیرانو د استخدامولو تېر وواهه:۵۴

د امتیاز خاوند : د کانونو او پټرولیم وزارت
مسول مدیر: جمال کوتوال
خبرنګاران: حضرت خان مشوانی او حامد بارز
ډیزاینر : مطیع الله سحر احمدزی
عکاس : همایون مصطفی

د لیکنې ډله: همایون افغان، انجنیر محمد افضل صافی، هارون فیروز، قاري عبدالحکیم برهان، شوکت علي فایق
دویمه دوره: لومړی ګڼه
چاپ کال: ۱۴۰۲ کب میاشت

# سرمقاله

## د کانونو د استخراج نوی اغاز، ښه شګون!

جنګ ځپلی او وروسته پاتې هېواد افغانستان، چې بې حسابه شتمني يې تر خاورو لاندې ده ددې وخت را رسېدلی دی، چې د سرتاسري امنيت او ثبات په تامين سره د نفتو او ګازو په ګډون د ټولو قيمتي او نيمه قيمتي کانونو په را سپړلو سره د وروسته پاتې هېواد پر ځای د پرمختللي او متمدن هېواد په نوم ونومول شو.

د پېړيو راهيسې ا فغانان او نړيوال په افغانستان کې د بې حسابه کانونو په شته والي ليکنې کوي او دېته په تمه دي، چې تر ځمکې لاندې شتمنې به کله را اېستل کېږي، چې دا دی په دې سکتور کې د وينا څخه عمل ته خبره را ورسېده او د کانونو په استخراج عملا لاس پورې شو.

ټول افغانان اوس دېته سترګې پر لاره دي، چې څه وخت به د کانونو د استخراج له برکته په ځان بسيا او د نړيوالو مرستو اعتياد ته د پای ټکی کېښودل شي، چې دادی په ملي او وطني احساس سره د کانونو د استخراج چارې په شدت سره پيل شوې دي، کانونه او دټېلو زېرمې د اکتشاف له حالته په ثمر او توليد راغلي او تر دې دمه يې په کافي اندازه عوايد را وړي دي.

د امريکا د نيويارک ټايمز ورځپاڼې په يو رپوټ کې ويل شوي دي، چې په افغانستان کې د کانونو داسې زېرمې کشف شوي دي، چې د استخراج په صورت کې فقير افغانستان په شتمن غني افغانستان بدلولی شي.

په رپوټ کې دا هم ويل شوي دي، چې لتيم، اوسپنه، مس، کوبالټ او د سروزرو کانونه ددغه هېواد په جنوب کې دومره زيات دي، چې په راسپړلو سره به يې په شتمن او پرمختللي هېواد ونومول شي.

هر هېواد هڅه کوي دغه عنصر تر لاسه کړي، په همدې توګه په افغانستان کې د لتيم موجوديت د سعودي عربستان د تېلو په اندازه پرېمانه ښودل شوی، چې افغانستان د فقر له جدول څخه د غني او متمدن هېواد کچې ته رسولی شي.

د تېرو شلو کالو په دوران کې حکومتي واکدارانو په خپلو خرګندونو کې افغانان همدېته په تمه کړي و، چې زيات کانونه او تر ځمکې لاندې خزانې لرو، خو د اکتشاف، استخراج او توليد خبرې يې نه کولې، په تېرو شلو کالو کې، چې دکانونو د غير قانوني کيندنو د مافيا ناوړه ګټه اخيستله هغه زموږ ټولو هېواد والو ته څرګند دي، چې تنظيمي قومندانانو او زور واکانو کاني مواد قاچاق کول او خپلې پانګې يې پرې پړسولې اوس چې حالت بدل شوی او د ډاډمن امنيت راغلی دی، د اسلامي امارت مشر تابه د کانونو د کيندنو چارو ته کار ويلی دی او په اقتصادي لومړيتوب کې نيولی دی، په ملي او نړيواله کچه د کانونو د استخراج کمپاين پيل شوی او خبره له وينا څخه عمل ته راغلې.

همدا اوس د نفتو او ګازو په ګډون يو شمېر کانونه په قرارداد ورکول شوي دي او دغه لړۍ په شدت سره روانه ده، د عوايدو له پلوه ددې اميدوارۍ شته، که چېرې ټول کانونه له قانون سره سم د استخراج لپاره په اجاره او قرداد ورکول شي نه يوازې دا چې په ځان بسيا او د نړيوالو مرستو نه به بېغمه شو، بلکې نورو بېوزله هېوادونو ته به موهم د مرستو خير ورسېږي.

د کانونو او پټروليم وزارت مشرتابه چې د هېواد د کانونو د څرنګوالي او څومره والي نه د هېوادوالو د خبرولو او معلوماتو تر لاسه کولو د پاره د وزارت په اډانه کې يوه خپرونه اړينه بولي څکه خو د پخوانۍ بندې شوې (معادن) په نوم د مجلې د خپرونو د بيا پيلولو او خپرولو سپارښتنه يې وکړه موږ په داسې حال کې چې د معادن د مجلې د بيا خپرولو لپاره ټېر وواهه دا کار په يوازې ځان شونی نه دی څکه نو د وازت اړوند او بهر ټولو مسلکي کسانو، ليکوالو او قلموالو ته بلنه ورکوو چې خپلې قلمي همکارۍ زموږ سره جاري وساتي او مجله د مضامينو او مطالبو له پلوه اکمال کړي.

# پیام تبریکی



مردم افغانستان بعد از چهار دهه جنگ ویرانی نخستین بار است که در فضای امن نفس راحت می کشند و چشم امید به آینده بهتر دوخته اند، البته تأمین آینده بهتر و تضمین زندگی آرام و مرفه لازمه رشد اقتصادی، ایجاد فرصت های شغلی، کاهش فقر، و رسیدن بخود کفائي می باشد.

امارت اسلامی افغاستان از بدو استقرار الی اکنون که مدت بیش از دو سال می شود در پهلوی سایر محرک های اقتصادی کشور، توجه جدی به سکتور معادن معطوف و از طریق وزارت معادن و پترولیم زمینه های جلب و جذب سرمایه گذاران داخلی و خارجی را در عرصه سکتور معادن مساعد نموده است.

همین اکنون تعداد زیادی از معادن بزرگ از طریق داوطلبی به قرارداد سپرده شده و عملا کار روی این پروژه های معدنکاری آغاز و تعداد از معادن در مرحله پروسه داوطلبی قرار دارند.

وزارت معادن و پترولیم به هدف رشد و توسعه اقتصادی، تضمین رفا و سعادت مردم افغانستان با بهره گیری و استفاده از منابع معدنی و ذخائر زیر زمینی مطابق اسناد تقنینی و اصول حاکم از هیچ نوع سعی و تلاش دریغ نمی ورزد، اما جهت دست یابی به اهداف فوق الذکر اعتماد مردم، تأمین شفافیت در پروسه های معدنکاری جلب وجذب سرمایه گذاران داخلی و خارجی را از نیازها و ضروریات مبرم خویش میداند.

به همین منظور این وزارت در پهلوی سائر شبکه های اطلاع رسانی مجله را تحت عنوان (مجله معادن) از طریق ارگان نشراتی خویش به نشر می سپرد و معلومات با ارزش و سودمندی را پیرامون گزارشات کاری، پروژه های معدنکاری، کمیت و کیفیت و چگونگی استخراج معادن و دست آوردهای وزارت از طریق آن مردم با عزت و سربلند کشور شریک می نمود که بنا بر بعضی مشکلات این مجله مدتی متوقف و از نشر و چاپ باز مانده بود.

خوشبختانه در نتیجه سعی و تلاش و کوشش های دست اندرکاران ارگانی نشراتی وزارت، این مجله دوباره شروع به کار نموده و اینک و طبع شماره (۱) دوره دوم دوباره به زیور طبع آراسته و در دسترس علاقمندان قرار می گیرد، من این موفقیت به دست اندرکاران مجله هییت تحریر، نویسندگان معزز و سائر علاقمندان آن تبریک و تهنیت عرض نموده و از خداوند بزرگ برایشان توفیقات مزید استدعا دارم.

**با احترام**

**شیخ الحدیث شهاب الدین دلاور**

# چگونه محیط زیست میتواند اقتصاد ما را تقویت کند؟



دیپلوم انجینیر حاجی محمد محمدی

طوریکه به همه گان معلوم است کیفیت محیط زیست (محیط زیست سالم) یکی از پر ارزش ترین شاخص زیست باهمی و ارزشمند ترین نعمت در تقویت و کیفیت اقتصاد ما به حساب میرود. هر قدر کیفیت محیط زیست بهتر باشد به همان اندازه اقتصاد ما تقویت میابد. اقتصاد که خود زاده منابع زمینی و معدنی بوده و این منابع همواره متناسب به محیط زیست میباشد که کیفیت محیط زیست بالا میتواند این اقتصاد را رشد داده و از ورشکستگی حتمی نجات بدهد.

معادن یکی از ثروت های ملی یک کشور بحساب میرود, دائماً و مستقیماً ارتباط به محیط زیست داشته و محیط زیست سالم و مصئون مستقیماً متناسب به بلند رفتن سطح تولید درمعادن است. چه استخراج معادن ارتباط مستقیم بالای کیفیت آب, هوا و خاک داشته که در صورت متاثر شدن این سه پارامتر کیفیت محیط زیست .پائین آمده باعث سکتگی در استخراج گردیده و سطح تولید را پائین میارد, که خود باعث رشد منفی تولید و باعث پائین آمدن اقتصاد در کشور میگردد.

هرگاه ما یک استخراج غیر قانونی داشته باشیم این نوع استخراج در ذات خود باعث رشد منفی در اقتصاد کشور ما به حساب میآید, چراکه از این نوع استخراج ها اشخاص سود جو و منفعت پرست استفاده های شخصی داشته پول یا درآمد معادن را تاراج و حتی غرض استفاده های نامعقول و غیر قانونی به مصرف میرسانند. که همه و همه باعث بروز مشکلات اجتماعی, اقتصادی و زیست محیطی گردیده و باعث رشد منفی در پروسه اقتصاد میگردد. رشد منفی اقتصادی نا بسامانی های زیادی را زاده میتواند که درد سر های متنوع به یک جامعه از نظر اجتماعی, اخلاقی و سیاسی گشته میتواند.

و اما استخراج های قانونی که یک روند عالی و تثبیت شده قانونمند و ضرورت جوامع است , باز هم بدون نظارت و بررسی دوامداراز پارامتر های محیط زیستی و اجتماعی همچنان باعث پائین آمدن سطح تولید و رشد منفی اقتصاد میگردد.

در استخراج معادن عمر معدن بسیار مهم و ارزشمند است. این عمررا سه شاخص عمده و اساسی تعین میکند.

1- مطالعات دقیق اکتشافی و تجزیه های البراتواری مستدل و استاندرد که در نتیجه باعث محاسبه دقیق ذخائر معدنی گشته و یک ترسیم سه بعدی از معدن را برای ما ارائه میکند, و مطابق آن پالن های استخراجی و پالنهای زیست محیطی منظم طرح وعملاً در ساحه تطبیق گردد.

2- مطالعات و تحقیقات دوامدار محیط زیستی معادن چه در هنگام استخراج و چه قبل از استخراج باعث دریافت ارقام حقیقی محیط زیستی گردیده و میتواند باعث بالا رفتن کیفیت اقتصادی معدن گشته و هم محیط را از پیامد های ناگوار استخراج های دوامدار بصورت سیستماتیک و علمی در نظارت داشته و نمی گزارد تا پارامتر های منفی باعث رشد منفی در استخراج معدن گردد.

3- استخراج علمی و فنی به اساس معقوله ارزشمند استفاده از منابع بدون ضرر رساندن به نسل های بعدی " یا تعریف انکشاف پایدار استوار گشته و عمر معدن را بصورت درست ادامه میدهد.

یک اقتصاد خوب , خود از یک سیستم تولید, توزیع و مصرف متناسب بهره مند بوده و ضامن توزیع ومصرف عادلانه هر نوع مواد خوراکی و مصرفی برای مصئونیت مردم ضروری است. تولید خود انواع محور های خود را دارد هم در قسمت تولید و هم در قسمت مصرف که این همه را بنام منابع اقتصادی میخوانند که این همه دارای یک سیستم اقتصادی بوده که شامل تولید و مصرف میگردد.

حال اگر کیفیت محیط زیست خود را بالا ببریم از یکسو با یک محیط پاک و سالم هم سو هستیم و از سوی دیگر با کنترول مضرات دراستخراج سطح تولید خود را به خوبی مدیریت کرده, از هر اجزا استخراجی خود استفاد مناسب و معقول میکنیم. همچنان با کنترول دوامدار زیست محیطی عمر معدن را نیز بالا برده و برای سالهای متمادی بشکل متداوم و پایدار از منابع استفاده کرده بدون اینکه به خود, ماحول خود و نسل های بعدی ضرر رسانده باشیم.

پس بدین لحاظ تحقیقات زیست محیطی در معادن یک رکن عمده و اساسی استخراجی بوده که مقامات مسئول آنرا همواره در سرخط کار های خود قرار داده اند. گرچه نیاز به پول یکی از شاخص های عمده وزارت معادن و پترولیم بوده و اما حفظ محیط زیست شاخص ارزشمند تر از این است چونکه دوام استخراج درآمد دوامدار به امارت اسلامی افغانستان را تامین میکند.

# بیانیه شیخ الحدیث شهاب الدین دلاور سرپرست وزارت معادن وپترولیم در ولایت هرات



در نشستی که چندی قبل در ولایت هرات با حضور داشت علما، متنفذین و تاجران ملی و بین المللی دایر گردیده بود، سرپرست وزارت معادن و پترولیم در آغاز صحبت های خود همه اقوام افغانستان را به اتحاد و همبستگی دعوت نمود و از امنیت سرتاسری افغانستان ابراز خوشبینی نمود و در ادامه پیرامون چندین پروژه بزرگ این ولایت که در حال تطبیق است برای مردم افغانستان معلومات ارایه نمود.

سرپرست وزیر گفت یکی از پروژه بزرگ این ولایت چهار بلاک آهن ولسوالی غوریان است که مساحت آن 950 کیلومتر مربع میباشد، که اندازه ذخایر این معدن در حدود دو میلیارد تن بوده به مقدار شش نیم ملیارد دالر روی بلاک متذکره سرمایه گذاری خواهند گردید سرپرست این وزارت افزود که پروسس آهن را در داخل کشور شرط قرار داده است وی افزود که افغانستان در آینده به یک کشور صنعتی تجارتی و صادراتی آهن تبدیل خواهد گردید.

وی از نفت این ولایت نیز یاد آوری نمود و گفت که این ولایت 23هزار کیلومتر مربع نفت و گاز دارد و هرات را یک زون نفتی نیز قلم داد نمود و افزود که 13 ولسوالی های ولایات هرات و بادغس دارای نفت و گاز میباشد که کار بالای این حوزه نفتی ادامه دارد و حوزه نفتی مذکور را به 10 بلاک تقسیم کرده ایم که به میلیارد ها دالر بالای هر بلاک سرمایه گذاری خواهند گردید.

شیخ الحدیث شهاب الدین دلاور افزود کار بالای پایپ لاین گاز ترکمنستان هم ادامه دارد تا قراردادهای این پروژه را به شرکت های خصوصی عقد نماید تا سرمایه گذران هم در کشور سرمایه گذاری نماید قرار است به میلیارد ها دالر روی پایپ لاین سرمایه گذاری خواهد گردید.

سرپرست وزیر از وصل سازی سرک غور و هرات نیز خبر دادند که در مقابل قرارداد سرب و جست ولایت غور بصورت اساسی ساخته میشود این سرک به مساحت 350 کیلومتر که ولایت غور را با ولایت هرات وصل میسازد در حال تطبیق است و در آینده نزدیک تکمیل خواهد گردید.

سرپرست وزارت معادن و پترولیم در ادامه گفت که 172 کیلومتر سرک حلقوی در مربوطات ولایات فاریاب و بادغیس خام بوده کار بالای ساخت اساسی آن آغاز گردیده است هزینه ساخت این سرک نیز از عواید معادن پرداخت خواهد گردید که سرک حلقوی و وصل سازی سرک ولایات همجوار به هرات این ولایت را از اهمیت خوب دیگر نیز برخوردار میسازد.

شیخ شهاب الدین دلاور سرپرست وزارت معادن و پترولیم در اخیر صحبت های شان گفت که با تطبیق پروژه های فوق الذکر فرصت شغلی فراوان برای جوانان ایجاد خواهند گردید. گفت تا اکنون معادن که به قرارداد شده به شمول: ذغال سنگ، سمنت، نمک و استخراج نفت آمو دریا و همچنان متباقی معادن بزرگ و کوچک صدا ها هزار کارمند و کارگران مصروف کار گردیده و نظر به ظرفیت معادن میزان فرصت شغلی نیز بلند خواهد رفت.

# د افغانستان د کانونو په هکله د ترسره شویو بولیو، تړونونو او پانګوالو سره د مشرتابه د لیدنو او کتنو غورچاڼ

## د آمو دریا په نفتي حوزه کې د اتو حلقو نویو څاه ګانو پرانیسته



د کانونو او پټرولیم سرپرست وزیر او د ریاست الوزرا اقتصادي مرستیال ملا عبدالغني برادر د آمو دریا نفتي حوزې د اتو حلقو نویو څاه ګانو پرانیستې په موخه سرپل ولایت ته سفر وکړ

د یادو څاه ګانو پرانیستې لپاره د جوړه شوې غونډې په پیل کې شیخ الحدیث شهاب الدین دلاور د یادې پروژې د اهمیت په اړه خبرې وکړې او زیاته یې کړه: د نویو څاه ګانو له پرانیستې سره به، کېندل شوو څاه ګانو شمېر 17 ته ورسیږي او د استخراج کچه به په ورځني ډول 800 متره مکعب ته پورته شي.

همدارنګه په پام کې ده چې په نېږدې راتلونکې کې 10 حلقې نوې څاه ګانې هم وکېندل شي چې د یادو څاه ګانو په کېندلو سره به د استخراج کچه نوره هم لوړه شي.

د دغې پروژې په پیل سره به څه باندې 550 تنو ته په مستقیم او زیات شمېر نورو ته به په غیري مستقیم ډول د کار زمینه برابره شي.

## د کندهار سمنټو فابریکې چارې په چټکتیا سره رواني دي



د کندهار ولایت د شور اندام سمنټو فابریکې جوړولو چارې په 100جریبه ځمکه کې د سل میلیونه ډالرو په ارزښت چې څه موده وړاندې د کانونو او پټرولیم وزارت له یو خصوصي شرکت سره تړون لاسلیک کړی و په چټکیا سره رواني دي.

د یادې فابریکې په لومړۍ مرحله کې به د تولید ظرفیت په ورځني ډول 1500 ټنه او په راتلونکو کلونو کې به 5000 ټنو ته ورسیږي او له 5000 زره تنو څخه زیاتو کسانو ته به کاري زمینه برابره شي. همداراز به د عوایدو په لوړوالي، د کاري زمینې برابرولو، د ملي اقتصاد پیاوړتیا او له بهرنیو هیوادونو څخه د سیمنټو د وارداتو په کموالي کې موثر تمام شي.

د یادونې وړ ده چې د کانونو او پټرولیم وزارت د جبل السراج او هرات سیمنټو پروژې به هم قرارداد ته وسپارل شي چې اوس مهال د اکتشاف په مرحله کې دي.

## د شبرغان _ مزار نل لیکې چارې د پلان شوي وخت نه مخکې بشپړې شوې



له شبرغان څخه مزار شریف ښار ته د غځېدونکي نللیکې هغه چارې چې د سږکال پلان کې نیول شوې وې له وخت مخکې تکمیل او دراتلونکي کال پنځه سلنه چارې یې هم پر مخ تللي دي.
دغه نللیکه چې 94،5 کیلومتره اوږدوالي لري او د شبرغان گاز مزار شریف ښار ته انتقالوي د کانونو او پټرولیم سرپرست وزیر له خوا یې د 609 میلیونه افغانیو په ارزښت د غځېدلو چارې رسما پیل شوې وې، د پلان له مخې سږکال باید 16 کیلومتره نللیکه غزول شوې وای چې له نیکه مرغه دغه نللیکه 18،5 کیلومتره غځول شوې او د کال تر پایه به نوره هم وغځول شي.

## د سیمه یزو خدمتونو عمومي مدیریت د کیندنې دوه دستگاه وو فعالیدل



د کیندنې او اکتشاف دوه دستگاه وې HYDX-4 له ټولو اړوند وسایلو سره د کانونو او پټرولیم وزارت د سروې او جیولوجي معینیت له لورې (14625337) افغانیو په ارزښت د چین هېواد څخه و پلورل شوې د سیمه یزو خدماتو عمومي مدیریت له لورې فعالې او گټه اخیستنې ته چمتو شوې.
یادې دستگاه وې د هېواد د کانونو دا اکتشاف په برخه کې د سمې څېړنې په موخه او همدارنگه د وزارت تخنیکي پرسونل ټیم ته د زده کړو لپاره چمتو شوي چې د کیندنې ظرفیت یې له 800 څخه نیولې تر 1000 مترو او د 30 څخه تر 90 درجې زاویې پورې د کیندنې چټکتیا درلودونکې ده او په سختو ډبرو کې له 0.5 څخه تر 4 مترو پورې نرمو ډبرو ته تغیر کېدونکې ده.
همدارنگه د یادې دستگاه د کیندنې په برخه کې د چارومختنه وړلو په موخه 18 تنو ته فني زده کړې ورکړل شوې، او د کانونو هغه قراردادي شرکتونه چې په دې برخه کې د اکتشاف او یا هم د کیندنې په برخه کې علاقمندي ولري د کاني موادو (ژوروالی، پلنوالی، پراختیا) او د ( منرالونو جوړښت او د موادو فیصدي) کیفیت معلومولو لپاره په ښه زیرکتیا او لږ قیمت سره ترسره کوي.

## په کابل ښار کې د ډېرو سکرو د وېش لړۍ



د کابل ښاریانو لپاره د اسانتیاوو رامنځته کولو په موخه د ډېرو سکرو د وېش لړۍ پیل شوې د کانونو او پټرولیم وزارت سرپرست شیخ الحدیث شهاب الدین دلاور او مل پلاوي د کابل ښار په اتمه ناحیه کې د ډېرو سکرو د وېش لړۍ رسماً پرانیسته. د 50000 زره ټنو د ډېرو سکرو چې د کانونو او پټرولیم وزارت او کابل ښاروالي له لوري یې مخکې پلان شوی و، د کابل ښار په 22 ناحیو کې ځای پرځای شول او پر کابل ښاریانو باندې یوټن په 9000 افغانیو پلورل کیږي.

## د هرات ولایت له زلزله ځپلو سره د مس عینک MCC او د آمو دریا افچین کمپنیو نغدي مرستې



د مس عینک MCC قراردادي چینایي کمپنۍ د دوه میلیونه دوه سوه یو اویا زره 2271000 افغانۍ او دیادې کمپنۍ د کارمندانو له لوري د یولک نهه ویشت زره دوه سوه څلوېښت زره 129240 افغانۍ او همدارنګه د افچین کمپنۍ له لوري د څلور میلیونه پنځه سوه زره 4500000 افغانیو نغدي مرسته د هرات ولایت زلزله ځپلو سره د مرستې په موخه ورکړې.
د کانونو او پټرولیم وزارت سرپرست د یادو کمپنیو له مرستو څخه مننه وکړه.

## سیستم مدیریت ترازوهای بلند تناژ عملاً تطبیق گردید



ریاست MIS از تطبیق شدن عملی سیستم مدیریت ترازو های بلند تناژ و ترازو سرک حلقوی ولایت ننگرهار برای مقام وزارت اطمینان داده، همچنان از پیشرفت و جریان کار سیستم مدیریت قراردادهای معادن کوچک از طریق پرزنتیشن معلومات مفصل ارایه نمودند، که هدف از ایجاد این سیستم شفافیت در عواید، جلوگیری از فساد اداری و قاچاق میباشد.
سرپرست وزارت معادن و پترولیم بمنظور بهبود روند کاری هدایات لازم ارایه نمودند.

# ملت ته د دولت حساب ورکولو پروګرام کې د کانونو او پټرولیم وزارت د یو کال کړنو راپور




د کانونو او پټرولیم وزارت سرپرست شیخ الحدیث شهاب الدین دلاور ملت ته د دولت حساب ورکولو پروګرام کې چې د حکومت د اطلاعاتو او رسنیو مرکز کې جوړ شوی و، د مالي او اداري مرستیال مولوي حسام الدین صابري، تخنیکي مرستیال انجنیر وحیدالله حلیمي، د وزارت ویاند مفتي همایون افغان، د عوایدو رئیس محمد رسول عقاب، رئیسانو او د بېلابېلو رسنیو استازو ګډون کړی وو. د وزارت د عمده لاسته راوړنو په اړه لکه د جیولوجي سروې، د کانونو د جواز ورکړه، د نفتو او ګازو قراردادونو مدیریت، د کوچني او لوی مقیاس کانونو قراردادونه، د قیمتي او نیمه قیمتي ډبرو لپاره په ننګرهار کې د مارکېټ جوړېدل، د سمنټو پروژې، د روڼوالي او له اداري فساد سره د مبارزې په برخه کې معلومات ورکړل.



همدارنګه د کانونو او پټرولیم وزارت سرپرست د کانونو په طرزالعمل او د هېواد په 24 ولایتونو کې له 9 ارګانونو مشتمله د کانونو د محافظت او څارنې د کمېټې د جوړېدو چې دوی به د کانونو د حفاظت او نظارت تر څنګ د غیرقانوني کان کیندنې او قاچاق مخنیوی او د افغانستان د نفت او ګازو سیمو او په یادو سیمو کې د شته ظرفیت، د شبرغان څخه تر مزار شریف ښار پورې د ګازو د پایپ لاین چې 94.5 کیلومتره په اندازه پرانیسته، او د 1402 مالي کال لپاره د برنامو او پلانونو په اړه هر اړخیز معلومات ورکړل.

د کنفرانس په دوام کې د وزارت ویاند مفتي همایون افغان د کانونو د سروې، د کوچني مقیاس کانونو قراردادونو، د شمالي ولایتونو د زر شویي کانونو فعالیتونه، د کاني موادو د پروسس او فعالیت جواز، د هرات او کندهار ولایتونو د سمنټو پروژې، د ننګرهار ولایت د مرمرو پروژه، د پروان ولایت تراورتین، د هرات ولایت شیدا مس کان، د غوریانو اوسپنه، د غور ولایت سرب او جست، د راتلونکي کال د داوطلبۍ لپاره د پروژو اعلان او همدارنګه د قشقري د نفتو استخراج، د جوزجان ولایت د یتیم تاق ساحې ګاز، د هلمند، هرات او کټواز د نفتو سیمي، د لوګر د عینک مسو پروژه، د تاپي پروژه، د کانونو او پټرولیم وزارت طرزالعمل او نورو مواردو په اړه معلومات وړاندې کړل، په پای کې د یو شمېر خبریالانو پوښتنو ته یې هر اړخیز ځوابونه ورکړل.

## د کانونو او پټرولیم وزارت سرپرست د چین هیواد له سفیرسره وکتل




د کانونو او پټرولیم وزارت سرپرست شیخ الحدیث شهاب الدین دلاور د چین هیواد له سفیر او مل پلاوي سره په خپل کاري دفترکې ولیدل.
په دغه لیدنه کې د مس عینک د کار او پرمختګ او آمو دریا پروژو او همدارنګه د مس عینک پروژې شته ستونزې تر بحث او څېړنې لاندې ونیول شوې او د یادو پروژو د چټکتیا په موخه لازم تصمیمونه ونیول شول.

## دیدار سرپرست وزارت معادن و پترولیم با رئیس عمومی خط آهن افغانستان



شیخ‌الحدیث شهاب‌الدین دلاور سرپرست وزارت معادن و پترولیم با ملا بخت الرحمن شرافت رئیس عمومی خط آهن افغانستان و هیئت همراه‌شان در دفتر کارش دیدار کرد.
در این دیدار که مولوی حسام‌الدین صابری معین مالی و اداری و شماری از روئسای این اداره نیز اشتراک داشتند، جانبین در رابطه به توسعه فعالیت ها بخصوص احداث خط آهن از کشور ایران الی شهر هرات و اندخوی، شبرغان، مزار شریف الی شیرخان بندر که با ترکمنستان و تاجکستان وصل میگردد بحث و تبادل نظر نمودند.
سرپرست وزارت معادن و پترولیم در رابطه به احداث خطوط آهن با کشور های ترکمنستان، تاجکستان و ایران گفت: این یک پروژه ملی بوده و سهولت های زیادی را در انتقالات اموال از کشور های یاد شده، اعمار سرک‌ها و زمینه اشتغالزائی برای مردم ما فراهم خواهد شد و در عرصه تطبیق این پروژه وعده همکاری نمودند.

## پکتیا کې د سرپنتین کاڼي کان د استخراج چارې پیل شوې



د سرپنتین کاڼي کان چې د پکتیا ولایت ځاځي اریوب ولسوالۍ سپینې شګې په سیمه کې موقیعت لري، خه موده وړاندې ممتاز ایاز شرکت د آزادې داوطلبۍ له لارې د پنځه کلونو لپاره یو ټن په 24000 افغانۍ ورکولو سره ګټونکی شو.

## د کانونو او پټرولیم وزارت سرپرست د انګلستان سفارت له چار سمبالي سره ولیدل



د کانونو او پټرولیم وزارت سرپرست شیخ الحدیث شهاب الدین دلاور د انګلستان سفارت له چار سمبالي ښاغلي روبیرټ ډیکسن او عملیاتي مرستیالې سره په خپل کاري دفتر کې ولیدل، دواړو لورو د بېلابېلو موضوعاتو په اړه د خبرو ترڅنګ د د واړو هېوادونو ترمنځ د اړیکو پرښه والي ټینګار وکړ.

د کانونو او پټرولیم وزارت سرپرست زیاته کړه: الحمدالله د اسلامي امارت په راتګ سره په ټول هېواد کې امنیت تامین دی او یو واحد حاکمیت شتون لري، بین الافغاني پخلاینه رامنځته شوې، همدارنګه د ټولو افغانانو لپاره عمومي عفوه اعلان شوې هغه چې له هیواد څخه بهر دي کولی شي خپل هېواد ته راستانه شي.

نوموړي د اداري فساد، نشه یي توکو پر مخنیوي، د درملنې په موخه د څلور میلیونه روږدو کسانو ټولولو، د سوالګرو بایو مټریک او هغو لپاره میاشتني معاش ټاکلو، د اقتصادي پرمختګونو په ځانګړې توګه د عوایدو، د کوچنیو او لویو کانونو د قراردادونو او د اسلامي امارت په ټولو لاسته راوړنو په اړه معلومات وړاندې کړل.

په پای کې د انګلستان سفارت چارسمبالي د کانونو او پټرولیم وزارت له مېلمه پالنې څخه مننه وکړه او له پاکستان څخه د راستنېدونکو کډوالو او زلزله ځپلو سره یې د خپل هیواد د مرستو د ډېروالي خبره وکړه.

## دیدار سرپرست وزارت با نماینده شرکت RDS امریکا و انگلستان



شیخ‌الحدیث شهاب‌الدین دلاور سرپرست وزارت معادن و پترولیم با نماینده شرکت RDS امریکائی و انگلیسی در دفتر کارش ملاقات نمود.

در این دیدار دو طرف ضمن صحبت در مورد شرایط و مساعد بودن زمینه سرمایه گذاری در افغانستان بویژه سرمایه گذاری بالای معادن افغانستان، در مورد تشویق و جذب سرمایه گذاران خارجی بحث و تبادل نظر صورت نمود.

# د مس عینک پروژې عملي کول د اسلامي امارت له عمده لومړیتوبونو څخه دي



د کانونو او پټرولیم وزارت سرپرست شیخ الحدیث شهاب الدین دلاور د مس عینک پروژې قراردادي کمپنۍ MCC عمومي رئیس وانګ جي چنګ او مل پلاوي سره په خپل کاري دفتر کې ولیدل.

د کانونو او پټرولیم وزارت سرپرست او د MCC کمپنۍ عمومي رئیس د مس عینک پروژې اړوند خبرې وکړې او د یادې پروژې د عملي کار او تخنیکي موضوعاتو او د لرغونو اثارو پر انتقال یې بحث او نظرونه شریک کړل.

په دغه لیدنه کې د وزارت سرپرست د مس عینک پروژې د عملي چارو پیل د اسلامي امارت له لومړیتوبونو څخه یاد کړل او زیاته یې کړه د مس عینک پروژه دافغانستان خلکو لپاره ډېره مهمه ده او زموږ اساسي موخه د کانونو په سکټور کې د تحرک رامنځته کول او د یادې پروژې ستونزې هوارول دي نوموړي یادونه کړه چې اسلامي امارت ژمن دی چې د یادې پروژې د پلي کولو لپاره خپل ټولې هڅې په کار واچوي تر څو یې عملي چارې پیل او خلکو ته د کار زمینه برابره شي.

د MCC کمپنۍ رئیس د مس عینک پروژې د عملي چارو د پیل پر وړاندې پرتو پاتې ستونزو او د لرغونو اثارو شتون او انتقال یاد کړ او ویې ویل: چې یاده کمپنۍ هم د کار عملي پیل غوښتونکې ده.

په پای کې دواړو لورو د یادې پروژې پر فعالیت او د کار پیل او د ستونزو دحل په موخه د غونډو په دوام ټینګار وکړ.

## دیدار سرپرست وزارت معادن و پترولیم با رئیس کمپنی امی اوغلو مرمر ترکیه



شیخ‌الحدیث شهاب‌الدین دلاور سرپرست وزارت معادن و پترولیم با آقای رجب مصطفی  رئیس کمپنی امی اوغلو مرمر و شیخ عمر فاروق رئیس علماء انادولو ترکیه در دفتر کارش ملاقات نمود.

سرپرست وزارت معادن و پترولیم ضمن یاد آوری از مشترکات دینی و مذهبی دو کشور افغانستان و ترکیه افزودند: ازینکه افغانستان از لحاظ منابع معدنی غنی بوده.

و امنیت سرتاسری نیز تامین میباشد، تاجران خارجی که علاقمند سرمایه گذاری هستند میتوانند روی منابع معدنی کشور مخصوصاً معادن مرمر، رخام و نفت و گاز سرمایه گذاری نمایند.

همچنان رئیس کمپنی مذکور در مورد معادن مشابه که در ترکیه و افغانستان است صحبت نموده افزودند: کمپنی ما با داشتن چهل سال تجربه معدنکاری روی معادن مرمر و رخام علاقمند است تا روی معادن مرمر و رخام افغانستان که در ولایات کندهار و هرات موقعیت دارد سرمایه گذاری نماید.

در اخیر سرپرست وزارت معادن و پترولیم از برنامه های شان در قسمت سرمایه گذاری روی معادن مرمر و رخام استقبال نموده، وعده همکاری های لازم و فراهم سازی زمینه سرمایه گذاری شان سپردند.

## د کانونو او پټرولیم وزارت د 1401 کال د لاسته راوړنو او فعالیتونو راپور وړاندې کول



د کانونو او پټرولیم وزارت د پلان او پالیسۍ مرستیال شیخ ضیاءالرحمن الاریوبي د یوه خبري کنفرانس له لارې د کانونو او پټرولیم وزارت د یوه کال لاسته راوړنو او فعالیتونه راپور د حکومت د اطلاعاتو او رسنیو په مرکز کې رسنیو ته وړاندې کړل.

په دې کنفرانس کې د مقام وياند مفتي همايون افغان او د عوايدو رئيس مولوي محمد رسول عقاب هم ګډون درلود.

په پیل کې د وزارت د پلان او پالیسۍ مرستیال د وزارت د فعالیتونو، لاسته راوړنو او په کارونو کې د روڼتیا په اړه خبرې وکړې او ویې ویل: د خوښۍ ځای دی چې د افغانستان د اسلامي امارت له بریا وروسته د کانونو او پټرولیم وزارت توانیدلی چې د کانونو په برخه کې تر ټولو زیات عواید راټول کړي.

دغه راز وياند مفتي همايون افغان د کانونو او پټرولیم وزارت د 1401 مالي کال د سروې، د لویو او کوچنیو کانونو د قراردادونو، د معدني موادو د پروسس اجازه نامې، د نفت او ګازو پروژې، مس عینک او تاپي پروژې د لاسته راوړنو په اړه راپور وړاندې کړ. او همدارنګه یې د 1402 کال عمده پلانونو په اړه معلومات وړاندې کړل.

مفتي همايون افغان د کانونو او پټرولیم وزارت د عوایدو په اړه هم معلومات ورکړل او زیاته یې کړه: د کانونو او پټرولیم وزارت په 1401 کال کې (17،487،439،050) اوولس میلیارده، څلور سوه اوه اتیا میلیونه، څلور سوه نهه دېرش زره او پنځو افغانۍ عواید راټول کړي دي.

## د کانونو او پټرولیم وزارت سرپرست د جاپان له سفیر سره وکتل




د کانونو او پټرولیم وزارت سرپرست شیخ الحدیث شهاب الدین دلاور د جاپان له سفیر او ورسره مل پلاوي سره په خپل کاري دفتر کې وکتل.
د کانونو او پټرولیم وزارت سرپرست د جاپان سفیر ته د ښه راغلاست تر څنګ په سیاسي مسایلو، د دغه هیواد همکاریو، د افغانستان په اوسني وضعیت، د کانونو په برخه کې د پانګونې او همدارنګه د افغانستان او جاپان ترمنځ د تاریخي او اوږدمهاله دوستۍ په اړه خبرې وکړې.
په پای کې دواړو خواوو د اقتصادي مسایلو د تعقیب او چټکتیا لپاره د دواړو هېوادونو ترمنځ د اړیکو پر لا پیاوړتیا ټینګار وکړ.

## د کانونو او پټرولیم وزارت سرپرست له استرلیایي پانګوال سره ولیدل




د کانونو او پټرولیم وزارت سرپرست شیخ الحدیث شهاب الدین دلاور له یو تن استرلیایي پانګوال سره په خپل کاري دفترکې ولیدل.
په دغه لیدنه کې دواړو لورو د افغانستان د کاني زېرمو په برخه کې د پانګونې په اړه خبرې وکړې، د بهرنیو کمپنیو جلبولو لپاره مناسبه زمینه، په ټول هېواد کې سرتاسري امنیت او همدارنګه د افغانستان د اوبو د مدیریت په اړه یې بحث او نظرونه شریک کړل.
د کانونو او پټرولیم وزارت سرپرست ورسره د هېواد په کانونو کې یې د پانګونې په موخه د لازمو اسانتیاوو برابرولو او همکاریو ژمنه وکړه.

## دیدار سرپرست وزارت معادن و پترولیم با سرمایه گذار روسی




شیخ‌الحدیث شهاب‌الدین دلاور سرپرست وزارت معادن و پترولیم با آقای گریمن کفانوف رئیس کمپنی MRT و دیپلوم انجنیر روح الله سادات رئیس کمپنی میگا ابرک در دفتر کارش ملاقات نمود.
درین دیدار ضمن صحبت در رابطه به فرصت های موجود سرمایه گذاری بالای منابع معدنی افغانستان، روی فراهم بودن زمینه مناسب و امنیت سرتاسری کشور بحث و تبادل نظر نمودند.
همچنان روئسای شرکت های متذکره علاقمندی خویش را جهت سرمایه گذاری روی معادن این کشور به ویژه، سنگ زمرد ابراز داشته.

## نشست هیئت رهبری وزارت معادن و پترولیم با سفیر، اراکین بلند پایه و سرمایه گذاران ایران



شیخ‌الحدیث شهاب‌الدین دلاور سرپرست وزارت معادن و پترولیم در حضور داشت معینان و روئسای این وزارت نشست را با محترم احمد حسن کاظمی قمی سفیر ایران مقیم کابل، اراکین بلند پایه حکومتی و سرمایه گذاران استان خراسان رضوی در تالار کنفرانس های وزارت معادن و پترولیم برگزار نمود.
سرپرست وزارت معادن و پترولیم تشریف آوری سفیر ایران و همراهانشان را خیر مقدم گفته افزود: افغانستان و ایران دو کشور برادر و همسایه هستند، از این رو روابط دو کشور بر اساس حسن همجواری و تفاهم استوار است که از سالهای زیاد بدینسو میزبان میلیون ها افغان بوده دارای مشترکات دینی، فرهنگی و لسانی میباشند.

## د کانونو او پټرولیم وزارت سرپرست د ترکيې هیواد له سفیر سره ولیدل



د کانونو او پټرولیم وزارت سرپرست شیخ الحدیث شهاب الدین دلاور د دې وزارت د مرستیالانو او یو شمیر رئیسانو په شتون کې د ترکیې له سفیر ښاغلي جهاد ارګین او له مل پلاوي سره په خپل دفتر کې ولیدل.
د کانونو او پټرولیم وزارت سرپرست د ترکیې سفیر او مل پلاوي ته د ښه راغلاست په ترڅ کې د ترکیې او افغانستان ترمنځ د ښو، اوږدمهاله او دوستانه اړیکو په اړه خبرې وکړې او همدارنګه یې د افغان تاجک نفتي حوزې د پروژې چې مخکې قرارداد شوې وه د کار د پیل او استخراج په اړه یې هم خبرې او نظرونه سره شریک کړل.
د ترکیې سفیر له افغانستان سره د سوداګریزو او اقتصادي اړیکو پر پیاوړتیا د ټینګار تر څنګ وویل د ترکیې هیواد پانګوال دې ته چمتو دي چې د دغه هیواد د کانونو په ګډون په افغانستان کې په بېلابېلو برخو کې پانګونه وکړي.

# د گوچین کمپنۍ د افغانستان د لتیمو په برخه کې د لس میلیارده ډالرو پانگونې تېر وهلی دی



د کانونو او پټرولیم وزارت سرپرست شیخ الحدیث شهاب الدین دلاور د گوچین کمپنۍ له استازي سره په خپل کاري دفتر کې وکتل.
د یادې کمپنۍ استازي د کانونو او پټرولیم وزارت له مشرتابه څخه د منني تر څنگ د افغانستان د لیتیم په برخه کې د پانگونې غوښتنه وکړه او ویې ویل: غواړو چې د افغانستان د لیتیم په کانونو کې 10 لس میلیارده ډالره پانگونه وکړو، چې له دې سره به 120 زره تنو ته په مستقیم او تر یو میلیون نفرو پورې په غیر مستقیم ډول د کار زمینه برابره شي
د کانونو او پټرولیم وزارت سرپرست په افغانستان کې د لیتیم د تولید په برخه کې د یاد شرکت د لېوالتیا د هرکلي په ترڅ کې وویل: د لیتیم کانونه په نړۍ کې یو له هغو کانونو څخه دي چې ډېر کم پیدا کېږي الحمدالله افغانستان په دې برخه کې د لیتمو غني کانونه لري له همدې امله د افغانانو هیلې دي چې دا کانونه به وکولی شي د هیواد اقتصاد پر ځان بساینې کې مرسته وکړي. نو د کانونو وزارت ته په کار ده چې د هیواد ټول کانونو  په ځانگړې توگه د لیتمو کانونه د قانون له مخې په قرارداد ورکړل شي.

## د کانونو او پټرولیم وزارت سرپرست له بریتانوي پانگوال سره ولیدل




د کانونو او پټرولیم وزارت سرپرست شیخ الحدیث شهاب الدین دلاور له بریتانوي پانگوال ښاغلي آنتوني رد سره په خپل کاري دفتر کې ولیدل.
په دغه لیدنه کې دواړو لوریو د افغانستان په طبیعي زېرمو د پانگونې تر څنگ یې د بهرنیو شرکتونو راجلبولو لپاره د مناسبو شرایطو او په ټول هیواد کې شته ډاډمن امنیت په اړه بحث او نظرونه سره شریک کړل.

# د یاقوتو بولۍ

## داوطلبی معدن یاقوت میدان وردک




داوطلبی معدن یاقوت کبود ساحه شاه کابل خورد ولسوالی نرخ ولایت میدان وردگ در مقر وزارت به گونه شفاف برگزار گردید.
شیخ الحدیث شهاب الدین دلاور سرپرست وزارت معادن وپترولیم داوطلبی معدن ساحه یاد شده را که قبلا به اعلان سپرده شده بود باحضورداشت شماری از روئسا، هیئت موظف و شرکت‌های که در ارزیابی پروپوزل ها شرایط داوطلبی را پوره کرده بودند تحت یک پروسه شفاف برگزار نمودند.

## د اووم ځل لپاره د پنجشیر ولایت د زمردو داوطلبي



د پنجشیر ولایت د (4794.7) قیراط زمردو داوطلبي د (318900) امریکایي ډالرو په ارزښت د پنجشیر والي ښاغلي حافظ محمد آغا حکیم په شتون کې د ټاکلي پلاوي له لوري د پنجشیر ولایت په مقام کې د (بولۍ) داوطلبۍ له لارې و پلورل شول.

## د خلور سیمو د مرمر او فلورایټ کانونو داوطلبي ترسره شوه

د ارزگان، کندهار او میدان وردگ ولایتونو د فلورایټ، مرمر کانونو داوطلبي د وزارت د غونډو په تالار کې د یوې رڼې پروسې په ترځ کې ترسره شوه.
د کانونو او پټرولیم وزارت سرپرست شیخ الحدیث شهاب الدین دلاور له لوري د ارزگان ولایت د مرکز د کاغه جرکوه باخود فلورایټ، د کندهار ولایت د شاولي کوټ ولسوالۍ د دره نور سیمي مرمر، د میدان وردگ ولایت د نرخ ولسوالۍ د شاه کابل خورد سیمي مرمر، د میدان وردگ ولایت د سیدآباد ولسوالۍ د تنګي بابوخېل سیمي مرمر، چې مخکې یې اعلان ته سپارلي ول د ټاکلي پلاوي، رسنیو استازو او هغو شرکتونو چې د پروپوزلونو په ارزونې کې یې د داوطلبۍ شرایط پورکړي ول داوطلبي ترسره کړه.




## د کوچني مقیاس 8 ساحو کانونو داوطلبي ترسره شوه



د (فلورایټ،مرمر،نفرایټ، مسکویټ او رخام ډبرو) کانونه چې په کندهار، هرات، ارزگان، ننګرهار او لوګر ولایتونو کې شتون لري د رسنیو په شتون کې یې داوطلبي ترسره شوه.

د کانونو او پټرولیم وزارت سرپرست شیخ الحدیث شهاب الدین دلاور یاد کانونه چې مخکې اعلان ته سپارلي وو، د پلان او پالیسي، مالي او اداري او جیولوجي سروې مرستیالانو، د یو شمېر رئیسانو، تاکلي هیئت او هغو شرکتونو استازو په ګډون چې د پروپوزلونو په ارزونه کې یې د داوطلبۍ شرایط پوره کړي وو دیوې رڼې پروسې په ترڅ کې د رسنیو په شتون کې یې داوطلبي ترسره شوه.

## داوطلبی معادن نفرایت ولایات ننگرهار و کنر برگزار گردید



وزارت معادن و پترولیم داوطلبی معادن نفرایت ساحه میرزاخیل ولسوالی کامه ولایات ننگرهار و ساحه بلاک C اولی برچنچن ولسوالی خاص کنر ولایت کنر را درصالون کنفرانس های وزارت برگذار گردید.

شیخ الحدیث شهاب الدین دلاور سرپرست وزارت معادن وپترولیم داوطلبی سنگ نفرایت ساحه میرزاخیل ولسوالی کامه ولایات ننگرهار و ساحه بلاک C اولی برچنچن ولسوالی خاص کنر ولایت کنر قبلا به اعلان سپرده بود.

## د کوچني مقیاس د 16 سیمو داوطلبي تر سره شوه

د ( مرمر- رخام- کرومایټ- فلورایټ- نفرایټ- ) کانونه چې په کندهار- هلمند- پکتیکا- فاریاب- ارزګان- لوګر او کابل ولایتونو کې موقعیت لري داوطلبي یې د رسنیو پر وړاندې تر سره شوه.



د کانونو او پټرولیم وزارت سرپرست ښاغلي شیخ الحدیث شهاب الدین دلاور یاد کانونه چې مخکې د داوطلبي لپاره اعلان ته سپارلي وو د پلان او پالیسي، مالي او اداري او د جیولوجي سروې مرستیالانو، دکادستراومنرالونوعمومي رئیس، تاکلي هیئت او هغو شرکتونو په شتون کې چې د پروپوزلونو په ارزونه کې یې د داوطلبي شرایط پوره کړي وو داوطلبي تر سره کړه.

## د 330 ټنه نفرایټو بولی



د لوګر ولایت د برکي برک ولسوالۍ د سجاوند سیمې 330 ټنه نفرایټو د پلور داوطلبي چې مخکې استخراج شوي وو د پلان او پالیسي او تخنیکي مرستیالانو او د داوطلبۍ کمیټې غړو په شتون کې ترسره شوه.

د یادو نفرایټو ډېرو 330 ټنه پلور داوطلبۍ کې 5 شرکتونو ګډون کړی وو چې د لایټ جید کنر ګرین شرکت یو ټن په (92000) افغانۍ د دې داوطلبۍ ګټونکی اعلان شو.

# لاسلیک شوي تړونونه

## د 142 میلیونه ډالرو په ارزښت د هرات ولایت د سمنټو پروژې تړون



د کانونو او پټرولیم وزارت سرپرست شیخ الحدیث شهاب الدین دلاور د سمنټو دریم لوی تړون چې په هرات ولایت کې موقعیت لري له گلبهار گروپ سره د رسنیو په شتون کې لاسلیک کړ.

د کانونو او پټرولیم وزارت سرپرست د یادي پروژې د تړون لاسلیک غونډه کې وویل: د خدای (ج) له درباره څخه ډېر شکر گذار یم، چې له کلونو نا امنیو وروسته د یوې ستري ملي پروژې د تړون لاسلیک شاهدان یو، د کندهار او پروان ولایت جبل السراج سمنټو پروژو څخه وروسته دا دریمه ستره د سمنټو تولیدي پروژه ده، چې له کورني پانگوال او کمپنی سره یې لاسلیک کوم.

همدارنگه د کانونو او پټرولیم وزارت سرپرست وویل: یاده پروژه د (142) میلیونه امریکایي ډالرو په ارزښت پانگوني سره به د 30 کالو لپاره په قرارداد ورکول کېږي او 5000 زره کسانو ته به مستقیم ډول د کار زمینه برابره شي او افغانستان به د سمنټو له درکه په ځان بسیا شي او صادرات به هم ولرو .

د یادولو وړ ده چې د کندهار، هرات او پروان ولایت جبل السراج سمنټو پروژو باندې 462 میلیونه ډالرو په ارزښت پانگونه شوې ده او 15000 زره کسانو ته به په مستقیم ډول د کار زمینه برابره شي.

## امضای تفاهم نامه انتقال و فروش ذغال سنگ



تفاهم نامه انتقال و فروش ذغال سنگ میان وزارت معادن و پترولیم، شاروالی کابل و شرکت ترانزیتی، تجارتی و بارچالانی محبت سادات توسط شیخ ضیاء الرحمن الاریوبی معین پلان و پالیسی، معین شاروالی و رئیس شرکت متذکره امضاء گردید.

به اساس این تفاهم نامه قرار است ذغال سنگ توسط شرکت قراردادی به کابل انتقال و در هماهنگی با وزارت معادن و پترولیم درنقاط مختلف شهر کابل که از طرف شاروالی کابل تعیین گردیده است برای شهروندان کابل با قیمت نازل بفروش برسد.

## د 7 لویو کانونو د استخراج او پروسس تړونونو لاسلیک

د کانونو او پټرولیم وزارت سرپرست شیخ الحدیث شهاب الدین د لاور د ملاعبدالغني برادر آخند په شتون کې د 7 لویو کانونو د پروسس او استخراج تړونونه د حکومت د رسنیو په مرکز کې لاسلیک کړل.




د تخار ولایت سمتي طلا د 310 میلیونه امریکايي ډالرو په ارزښت چاینا او زړور افغانستان شرکتونو ته د 5 کلونو لپاره.
مس عینک 2 د 411 میلیونه امریکايي ډالرو په ارزښت تویار خصوصي شرکت ته د 30 کالو لپاره.
د غور ولایت 2 بلاک سرب و جست د 537 میلیونه امریکايي ډالرو په ارزښت افغان اینویسټ او ابیکو شرکتونو ته د 30 کالو لپاره.
غوریان اول بلاک د اوسپنې کان د 2.8 میلیارده امریکايي ډالرو په ارزښت وطن درخشان، صنعتی آذارن او د ملي پراختیا شرکتونو ته د 30 کالو لپاره.
غوریان دوهم بلاک د اوسپنې کان د 874 میلیونه امریکايي ډالرو په ارزښت د ساحل شرق میانه، ایپیکول ترکي او دره نور شرکتونو ته 30 کالو لپاره.
غوریان دریم بلاک د اوسپنې کان د 572 میلیونه امریکايي ډالرو په ارزښت د شمش ملي او جي بي ایم بریتانوي شرکتونو ته د 30 کالو لپاره
غوریان څلورم بلاک د اوسپنې کان د 1 میلیارد او 17 میلیونه امریکايي ډالرو په ارزښت د باختر فولاد، احیا سپاهان او پارسیان ایراني شرکتونو ته د 30 کالو لپاره.
په قرارداد ورکړل شول

## امضاء قرارداد معدن سرب و جست ولایت بامیان



قرارداد معدن سرب و جست ساحه گنده کوتل ولسوالی یکه ولنگ نمبر یک ولایت بامیان توسط شیخ الحدیث شهاب الدین دلاور سرپرست وزارت معادن و پترولیم و رئیس شرکت استخراج و پروسس معدن افغان درانی امضاء گردید.

قرار داد متذکره بهمدت پنج سال برای شرکت استخراج و پروسس معدن افغان درانی اعطا گردید.

## د پروان ولایت د جبل السراج سمنټو پروژې قرارداد لاسلیک



د کانونو او پټرولیم وزارت سرپرست شیخ الحدیث شهاب الدین دلاور د جبل السراج د سمنټو پروژې قرارداد د عوفي بهرام، الفلاح العالمي و مجموعة المهام الدولي قطري شرکتونو سره د رسنیو په شتون کې لاسلیک کړ.
یاده غونډه چې د کانونو او پټرولیم وزارت د غونډو په تالار کې جوړه شوې وه، د کانونو او پټرولیم وزارت سرپرست وویل: د جبل السراج د سمنټو پروژه د 220 میلیونه ډالرو څخه زیاتې پانګونې سره، چې د کال یو میلیون او پنځه سوه زره ټنه سمنټ په اساسي توګه تولیدوي او 5000 کسانو ته به په مستقیم او ګڼ شمېر نورو ته به په غیر مستقیم ډول د کار زمینه برابره شي.
د کانونو او پټرولیم وزارت سرپرست د کندهار او هرات ولایتونو د سمنټو پروژې، د هرات نفت او ګاز، د بدخشان سروزرو، د پنجشیر زمردو په اړه معلومات وړاندې کړل، یادې پروژې یې د هېواد د اقتصادي پراختیا لپاره مهمې او اړینې وبللې.

## په ځاځي اریوب ولسوالۍ کې د شوکاڼي کان د کار پیل



د پکتیا ولایت د کانونو رئیس ښاغلي مولوي محمد حنیف نصرت له لوري د ولایت مقام استازي ښاغلي مولوي عبدالله، د ځاځي اریوب ولسوالۍ ولسوال مولوي حمیدي او د ګټونکي شرکت استازي په ګډون په ځاځي اریوب ولسوالۍ کې د شوکاڼي کان پرانسته وکړه.
د پکتیا ولایت د کانونو رئیس د  پروژې د ځانګړتیاوو تر څنګ وویل چې یاده پروژه تقریباً د (63,369,500) میلیون افغانۍ اټکل شوې ده چې نیږدې 300 کسانو ته به پکې کاري زمینه هم برابره شي.



خبریال: حضرت خان مشوانی

# د تاپي پروژې په بشپړېدو سره به ترکمنستان هر کال دېرش میلیارده متر مکعبه ګاز وپلوري او افغانستان به د ترانزیټ له درکه د کال څلورسوه میلیونه ډالر عواید تر لاسه کړي .

د تاپي پروژې د همغږۍ رئیس حافظ انجنیر ابوبکر اميني دمجلې پوښتنې داسې ځواب کړې.

**د تاپي پروژه د ترکمنستان، افغانستان، پاکستان او هند ترمنځ د ګازو د نل لیکې پروژه څه وخت رامنځته شوې ده او تر دې دمه یې څومره لوړې ژورې ګاللي دي؟**

په نویمه میلادي لسیزه کې له ترکمنستان سره دا مفکوره پیدا شوه چې څنګه کولی شي خپل ګاز د افغانستان له لارې د جنوبي اسیا مارکېټونو ته ورسوي. په لومړي ځل په 1995 کال کې د پاکستان او ترکمنستان د حکومتونو ترمنځ د دې پروژې د پیل په اړه یو هوکړه لیک لاسلیک شو. ټاکل شوې وه، چې د دې پروژې تطبیقي چارې د برایډاس په نامه یوه ارجنټایني کمپنۍ، چې د ترکمنستان د ګازو دولتي شرکت ترکمن لیفټ سره یې د شراکت قرارداد درلود او د ترکمنستان د ګازو په پراختیا او استخراج بوخته وه، پرمخ یوسي، خو وروسته د ترکمنستان د حکومت او برایډاس ترمنځ حقوقي دعوا رامنځته شوه، په 1996 کال کې د امریکایي کمپنۍ یونیکال په مشرۍ د Central Asia Gas pipeline, Ltd په نامه کنسرشیوم سره نوی تړون وشو. یونیکال په 1998 کال کې له اسلامي امارت سره د افغانستان له خاورې پاکستان ته د پایپلاین د تېرېدو په اړه هوکړه لیک لاسلیک کړ. خو د 1998 کال د اګست په 7مه د کینیا پلازمېنه نایروبي او د تانزانیا په دارالسلام کې د امریکا پر سفارتونو تر بمي بریدونو وروسته یونیکال د پروژې چارې وځنډولې. د 2002 کال په ډسمبر میاشت کې د افغانستان، ترکمنستان او پاکستان د حکومتونو مشران د ترکمنستان پلازمېنه عشق آباد کې سره جرګه شول او د یو بین الحکومتي درې اړخیز تړون په لاسلیکولو سره یې د پروژې لپاره نوی بنسټ کېښود. دا پروژه په دې وخت کې درې اړخیزه وه، یعنې تاپ (ترکمنستان-افغانستان-پاکستان) نومېده. خو د 2010 کال په ډسمبر کې د یو بل څلور اړخیز بین الحکومتي تړون په لاسلیکېدو سره هند هم رسماً له تاپ سره یو ځای شو او دا پروژه له تاپ څخه تاپي TAPI شوه.

**دغه پروژه له پیل نه تر انجامه پورې څومره اوږد والی لري، څه وخت یې عملي کار پیل شوی دی او څومره پرمختللې ده؟**

د پروژې ټول لګښت له 6 تر 7 میلیارده ډالرو پورې تخمین شوی دی او ټاکل شوې د پروژې شاوخوا 70 سلنه له نړیوالو مالي بنسټونو څخه د اوږدمهال پورونو له لارې تمویل شي او پاتې 30 سلنه یې د غړو هېوادونو نغدي پانګه ده.

**په افغانستان کې دننه څو کیلومتره واټن وهي، افغانستان ته یې ګټه څومره ده او په ګازو کې څومره ونډه لري؟**

د افغانستان دننه د پروژې اوږدوالی 814 کیلومتره تخمین شوی دی. د ترانزیت له درکه فیس، کاري فرصتونه او ارزانه او دوامداره انرژۍ ته لاسرسی د افغانستان لپاره د پروژې مستقیمې ګټې دي. دا چې افغانستان به په کال کې څومره ګاز اخلي، تر اوسه یې مقدار نهایي شوی نه دی خو د ابتدایي توافق پر اساس افغانستان د پروژې په لومړیو لسو کلونو کې د کال 500 میلیونه مترمکعبه، په دویمو لسو کلونو کې 1 میلیارد مترمکعب او په وروستیو لسو کلونو کې 1،5 میلیارده مترمکعبه ګاز اخلي. دا د افغانستان په خاوره کې د ګازو د وېش شبکې او زېربنا په موجودیت پورې تړلې دی، که زېربنا جوړه شي نو افغانستان د ډېر مقدار ګاز د جذب ظرفیت لري.

**په ټاپي کې شامل هېوادونه ددغې نل لیکې د تېرولو سره موافق او یوه خوله دي که څنګه، د هریو مالي ونډه څومره په کې ټاکل شوې ده؟**

د ټاپي د غړو هېوادونو له موافقې پرته پروژې نه شي عملي کېدای، له شک پرته چې ترکمنستان، افغانستان، پاکستان او هند ټول غواړي چې دا پروژه بریالۍ شي څکه هر یو پکې ځان ته اقتصادي ګټې لري.

**داسې ویل کېږي چې هند او پاکستان په خپلو کې جوړ نه دي ددې نل لیکې د غزولو سره علاقه نلري دا څومره رښتیا ده؟**

پاکستان او هند تر اوسه په ښکاره ددې پروژې په اړه مخالفت نه

له شک پرته چې ترکمنستان، افغانستان، پاکستان او هند ټول غواړي چې دا پروژه بریالۍ شي څکه هر یو پکې ځان ته اقتصادي ګټې لري.

**داسې ویل کېږي چې هند او پاکستان په خپلو کې جوړ نه دي ددې نل لیکې د غزولو سره علاقه نلري دا څومره رښتیا ده؟**

پاکستان او هند تر اوسه په ښکاره ددې پروژې په اړه مخالفت نه
دی ښودلی، بلکې علاقه لري چې عملي شي.

**د ټاپي پروژه به څه وخت بشپړه شي څلور واړو هېوادونو ته یې په اقتصادي لحاظ څنګه ارزوی؟**

دا چې ټاپي د منطقې په سطحه د انرژۍستره پروژه ده، تطبیق یې هم وخت ته اړتیا لري. دا پروژه په څو پړاوونو باندې وېشل شوې ده او هر پړاو یې اقتصادي، لوژستیکي، سیاسي او امنیتي مسایلو ته په پام سره زمانبندي کېږي. له نېکه مرغه پخوا د افغانستان په خاوره کې د پروژې د امنیت په اړه اندېښنې موجودې وې، خو اوس امنیتي تهدیدونه رفع شوي دي او د پروژې شریکان له دې اړخه مطمین دي. موږ ډاډه یو چې که افغانستان برخه کار پیل شي نو پایپلاین به په لنډ وخت کې تر پاکستان او هند پورې وغځېږي.
دا پروژه څلور واړو شریکو هېوادونو ته د پام وړ اقتصادي ګټې لري. ترکمنستان به وکولای شي چې په کال کې شاوخوا 30 میلیارده مترمکعبه ګاز وپلوري، افغانستان به په کال کې د ترانزیت له درکه شاوخوا 400 میلیونه ډالر عاید لاسته راوړي او زرګونو کسانو ته به کاري فرصتونه رامنځته شي او هم به د جنوب او جنوب غرب حوزه ارزانه او باثباته انرژۍ ته لاسرسی پیدا کړي.
پاکستان به هم له هند څخه ترانزیت فیس ترلاسه کړي او هم د خپلې انرژۍ تقاضا پوره کړي. هند هم چې په اسیا کې له سترو مخ پر ودو هېوادونو څخه دی، د ټاپي له لارې انرژۍ ته خپله شته اړتیا او تقاضا پوره کړي. تر ټولو مهمه دا چې دا ډول پروژې د سیمې ثبات او امنیت سره مرسته کوي او افغانستان له سیاسي او اقتصادي پلوه د مرکزي اسیا او جنوبي اسیا ترمنځ یو ښه موقف خپلولی شي.

# معادن آهن در افغانستان

فارمیشن سنگهای معدنی تحول یافته آهن – معادن و ظواهر معدنی آهن زون هریرود – پنجشیر به این فارمیشن تعلق دارند. این زون از شهر هرات تا قسمت های علیای دریای پتجشیر تا 600 کیلو متر امتداد دارد و متعلق به احجار میتامورفیکی کاربناتی – ولکانوجینی میباشد. این گونه معادن و ظواهر معدنی در تهداب کرستالی زون کابل نیز وجود دارند. نظر به ترکیب منرالی معادن این فارمیشن به تیپ های ذیل جدا میشوند: هماتیپ – مگنیتیتی، سیدیریت – مگنیتیتی و کوارسیت های آهن دار.

به تیپ هماتیپ – مگنیتیتی تمام معادن و ظواهر معدنی زون هریرود – پنجشیر تعلق داشته و معدن بزرگ آهن حاجی گک نیز به آن مربوط میباشد.

**معدن آهن حاجی گک :** این معدن در ولایت بامیان موقعیت دارد. در ساحه معدن احجار ایفوزیفی سلانسی پرو تروزوی و احجار کاربناتی دیون – کاربن تحتانی قرار دارند. در اینجا 16 جسم معدنی و 4 قسمت که در آن پارچه های معدنی دیده شده، جدا گردیده است. اشکال اجسام معدنی طبقه مانند، ندرتا عدسیه مانند و رگ مانند مغلق میباشند. ضخامت اجسام معدنی از 380-2 متر ، وطول آنها نظر به امتداد 4800-60 متر و نظر به افتادگی 552-20 متر میباشد.

احجار پروتروزوی فوقانی عبارت از سلانس های سیر سیتی ، کوارس- سیر سیتی، کاربنات – کلوریت – سیرسیتی، ولکانیت های تغیر یافته سبز رنگ ترکیب متوسط کوار سیت ها و دولو میت های مرمری شده میباشند. معدن داری صنعتی بطور خاص در کانتکت ولکانیت ها و احجار تریجینی – کاربناتی قرار دارد.

تغیرات احجار جا دهنده در حدود ساحه معدنی عبارت از کوارس شدن ، سیر سیت شدن ، کلوریت شدن وکاربنات شدن میباشد. کانتکت اجسام معدنی با احجار جا دهنده به اندازه قابل ملاحظه واضح بوده، اکثرا در احجار کاربناتی خال ها و رگهای متقاطع ترکیب هماتیت – مگنیتیتی دیده میشوند. سنگهای معدنی در معدن حاجی گک به اولی ونیمه اکسایدی جدا میگردند. ضخامت زون اکسیدیشن به 100 متر میرسد.



شکل 1-13. شیمای ساختمان جیولوجیکی منطقة آهن دار جهیل بلند امریـــــــــکا (از نظر س. گولدیچ) .

سنگهای معدنی اولی از مگنیتیت وهماتیت با خال های نا مساویانه پیریت تشکیل گردیده، بعضا به اندازه کم چالکوپیریت وپیرو تین نیز مشاهده میگردند.

از جمله منرالهای غیر معدنی سیدیریت، کوارس ندرتا پلاجیو کلاز، باریت، اکتینولیت، دیده میشوند. کمیت آهن در سنگهای معدنی پیریت- مگنیتیتی 56.24-68.80 % ( بطور اوسط 61.3%) بوده که از جمله 5% آهن درین سنگهای معدنی به پیریت ارتباط دارد. مخلوطات مضره در سنگهای معدنی آهنی عبارت از سلفر 0.06-0.2 %، فاسفور0.05% بوده ومخلوطات دیگردرآن: منگان 0.19%، نیکل تا 0.01% مس تا 0.01% کوبالت 0.001% میباشند.

سنگهای معدنی نیمه اکسایدی به سه تیپ ذیل تقسیم میشوند: جیوتیت ، نیمه مارتیتی، جیوتیت- هماتیت- نیمه مارتیتی، کاربنات- نیمه مارتیتی

سنگهای معدنی هایدرو جیوتیت- نیمه مارتیتی از منرالهای مگنیتیت، مارتیت، هایدرو جیوتیت- جیوتیت ندرتا هماتیت- پیریت ، کوارس ، سیدیریت ، کلسیت ، دولومیت ، کلوریت وتالک تشکیل گردیده اند

سنگهای معدنی هایدروجیوتیت- جیوتیت- هماتیت- نیمه مارتیتی از هماتیت فلسی- ورقه ای ، مگنیتیت، مارتیت، هایدروجیوتیت ندرتا پیریت تشکیل یافته است.

تکسچر سنگهای معدنی راهدار، ضعیف راهدار ندرتا کتلوی میباشد. کمیت آهن در سنگهای معدنی هایدروجیوتیت- نیمه مارتیتی 25.29-68.32 % ( بطوراوسط 62.5%) بوده از جمله مخلو طات مضره به اندازه کم (سلفر 0.11 % و فاسفور 0.06 %) دیده میشوند.

سنگهای معدنی کاربنات نیمه مارتیتی لکه ای و راهداراند. آنها از مگنیتیت، مارتیت ندرتا هماتیت و هایدروجیوتیت متشکل بوده خال های پیریت نیز در آنها مشاهده میگردد. کمیت آهن درین سنگهای معدنی 28.24 – 62.83 % (بطور اوسط 49.82 %)، مخلوطات مضره سلفر 0.06 % فاسفور 0.5 % میباشد.

ذخایر معدنی حاجی گک که به کتگوری صنعتی محاسبه گردیده به 115.9 ملیون تن و ذخایر پیش بینی شده آن به 2070 ملیون تن میباشد.

**معدن آهن سیاه جر:** این معدن در ولایت بدخشان موقعیت دارد. اجسام معدنی اشکال طبقه ای داشته ودارای ترکیب هماتیت- مگنیتیتی میباشند. ضخامت اجسام معدنی 3.5-2 متر وطول آنها تا 150 متر است. احجار جا دهنده اجسام معدنی عبارت از سلانس های رگویک شده ترياس فوقانی - یورای وسطی بوده ودر اکزوکانتکت کتله سیاه جر که عبارت از گرانیتویید های عمر الیگوسین بوده قرار گرفته اند.

ذخایر پیش بینی شده آن 40 – 45 ملیون تن میباشد.

**معدن آهن فورمارخ:** این معدن در ولایت بدخشان موقعیت دارد. اجسام معدنی آن به شکستگی تعلق دارند که در کانتکت سنگهای ریگی رگویک شده و سنگهای چونه کاربن تحتانی در نزدیکی کتله گرانیتوییدی الیگوسین عبور مینماید. اجسام معدنی اشکال طبقه ای داشته که از مگنیتیت ترکیب یافته اند. ضخامت اجسام معدنی -2 35 متر ، طول تا 1000 متر بوده و تا عمق 350 متر مشاهده گردیده اند. کمیت آهن در سنگهای معدنی -47.2 68.8٪ سلفر 0.02-0.03 ٪ ندرتا تا 0.3٪ فاسفور ٪ 0.1-004 بوده و ذخایر پیش بینی شده معدن به 35 ميليون تن میرسد.

**معدن آهن زیرک:** این معدن در ولایت بغلان موقعیت دارد. معدن مذکور در زون شکستگی قراردارد که در آن ولکانیت های سبز زنگ پروتروزوی و سنگهار چونه دولومیت شده، دولومیت های کوارس شده سلانس های کوارس- سیر سیتی کاربن تحتانی گسترش دارند. در اینجا سه کتله مجزاء اجسام معدنی هماتیت- مگنیتیتی با ضخامت 75-12 متر ، طول 450-90 متر مشاهده گردیده که نظر به افتادگی توسط ایروژن تا عمق 150 متر عریان گردیده اند.

کمیت آهن در سنگهای معدنی 5.65٪ ذخایر پیش بینی شده معدن 20 میلیون تن میباشد. در نزدیکی اجسام معدنی اصلی در ساحه 50000 کیلومتر مربع سنگهای معدنی پارچه ای جغله مانند وجود دارند که به اساس آن میتواند ذخایر معدن مذکور به اندازه قابل ملاحضه افزایش یابد(1980).

**معدن آهن خیش:** این معدن در ولایت بامیان موقعیت دارند. در ساحه معدن پنج جسم معدنی به ضخامت -10 200 متر، طول 300-1300 متر تثبیت گردیده که بین سلانس های سیرسیتی، کاربنات-کلوریت- سیر سیتی عمر پروتروزوی اخذ موقعیت نموده اند، احجار متذکره در ساختمان های فانه مانند تکتونیکی بین احجار کاربن تحتانی به سطح زمین برهنه گردیده اند. اجسام معدنی متشکل از سنگهای معدنی اکسایدی هماتیت- مگنیتیتی بوده که سترکچر متوسط دانه و میده دانه دارند در نزدیکی ظواهر اصلی، سنگهای معدنی پارچه ای گسترش دارند کمیت آهن در سنگهای معدنی 62.9-48، اکساید تتانیم 0.1٪ کلسیم 0.5، مگنیزیم 1.3٪ باریم 1.5، فاسفورس پینتا کوبالت 0.019 سلفر 0.03-2.92 بوده ذخایر پیش بینی 0.28٪ (p2 o2) اکساید شده معدن 117 ميليون تن میباشد.

**فارمیشن سنگهای معدنی سیدیریت- هماتیتی:** معادن این فارمیشن عبارت از اجسام معدنی ضخیم و طویل طبقه مانند سنگهای معدنی سیدیریت- هماتیتی بوده، ضخامت اجسام معدنی تا 30 متر و امتداد تا چندین کیلومتر میباشد. اجسام معدنی در بین احجار کاربناتی عمر پروتروزوی در زون شکستگی برزگ در جوزه دریای هریرود- پنجشیر (نقره خانه، چوکری ناو و غیره) قرار دارند. در ترکیب سنگهای معدنی مخلوطات منگان، مس، سرب، جست، نقره به مشاهده میرسند.

کانتکت اجسام معدنی با سنگهای چونه مرمر شده شدید است کمیت آهن در سنگهای معدنی 65-60٪ میباشد.

**فارمیشن کوارتست های آهن دار:** ظواهر منرالیزشن آهن این فارمیشن کمتر است آنها در بین احجار مرمر- کوارسیت- گنایس ها در زون کابل (غیزگی و غیره) قرار دارند. ضخامت گریزونت های کوارسیت های آهن دار تا 10 متر و طول آنها تا چندین صد متر میرسد. منرال اساسی مارتیت بوده که بالای مگنیتیت انکشاف نموده است این ظواهر معدنی ضعیف مطالعه شده، دور نمای تثبیت معادن بیشتر بزرگ مربوط به فارمیشن کوارسیت های آهن دار واضح نبوده، ولی احتمال موجودیت آن ها در بین طبقات ماقبل کیمبری وجود دارد.

قابل ذکر است که در این منطقه انومال های شدید مقناطیسی(-50 60 هزار گاما) جود دارد که میتواند به کوارسیت های آهندار ارتباط داشته باشند که تحت رسوبات نیوجن قرار دارند.

**ماخذ: معادن فلزی**
**پوهاند دوکتور نقیب الله سهاک 1389**

# دا مهال زر شرکتونه د کان کیندنې په بېلابېلو برخو کې کار کوي




پانګونې اسانتیا ریاست په 1400 کال کې د وزارت په تشکیل کې رامنځته شوی دی، د اقتصادي طرحو ارزونه، پانګوالو ته د پانګې اچونې اسانتیاوې رامنځته کول او معلوماتي کڅوړو چمتو کول د دې ریاست د رامنځته کېدو اساسي موخه ده . دغه ریاست په تېرو دوه کلونو کې د پانګوالو لخوا د چمتو شوو طرحو دقیقه ارزونه کړې ده او د وزارت رهبری ته یې د یادو طرحو په اړه د تصمیم نیونې په پار تخصصي نظریات وړاندې کړي دي، همدا شان د پانګونې رهنمودونه یې چمتو کړي دي او په بیلا بیلو نندارتونونو، غونډو او کنفرانسونو کې یې د هېواد د طبعیي زیرمو، د کانونو په برخه کې د پانګونې فرصتونو، د وزارت کاري پروسو او سکټور په اړه معلومات وړاندې کړي دي. د دې ترڅنګ دې ریاست د کانونو د نندارتونونو جوړولو لپاره ځانګړې طرحه جوړه کړې ده او له مخې یې د خصوصي سکټور سره د دې برخې د نندارتونونو په جوړولو کې مرسته کړې ده او لازمي اسانتیاوې یې رامنځته کړې دي.

مخکې له دې چې د وزارت لخوا د ورکړل شوو قراردادونو په شمېر وغږېږو لومړی غواړم چې د وزارت لخوا د ورکول کېدونکو اجازو په مختلفو ډولونو خبرې وکړم.

د کانونو او پټرولیم وزارت د کان کیندنې درې ډوله اجازه نامې او یو ډول قرارداد ورکوي.

(1) د حرفوي کان کیندنې اجازه لیکونه.

(2) د کوچنې مقیاس کان کیندنې اجازه لیکونه.

(3) د ساختماني موادو د کان کیندنې اجازه لیکونه.

**د لوی مقیاس کانونو قرار دادونه؛**

حرفوي کان کیندنې اجازه لیکونه د قیمتي او نیمه قیمتي ډبرو کان کیندونکو ته ورکول کېږي او تر اوسه پورې وزارت په سلګونه اجازه لیکونه صادر کړي دي.

د کوچني مقیاس اجازه لیکونه صنعتي، تزئیني، نیمه قیمتي ډبرو لکه نفرایت او سرپنتین ډبرو او نورو منرالونو د کیندنې لپاره ورکول کېږي چې ساحه یې د یو کیلومتر مربع څخه کمه وي تر دې دمه وزارت دا ډول 209 اجازه لیکونه ورکړي دي.

د لوی مقیاس کانونو کې ټول فلزي کانونه شامل دي او نور هغه کانونه چې ساحه یې د 1 کیلومتر مربع څخه تر 250 کیلومتر مربع پورې وي دا ستر کانونه دي او ډېرې پانګونې ته اړتیا لري دا مهال وزارت (26) فعال قرار دادونه لري.

د قرار دادونو او اجازه لیکونو په برخه کې وزارت د پام وړ اسانتیاوې رامنځته کړي دي، چې دبیلګې په ډول د داوطلبۍ د پروسو لنډول او په دې برخه کې د بیروکراسۍ کمول، د پروسو شفافیت ډاډمنول، ټولو خلکو ته د یو شان او له تبعیض پرته د داوطلبۍ په پروسو کې د ګډون زمینه برابرول، د کانونو په برخه کې لومړني اړین معلومات د پانګوالو سره شریکولو څخه یادونه کولی شو.

3 د کان کیندنې هر کورنۍ شرکت کولی شي، چې د حرفوي کان کیندنې، ساختماني موادو کان کیندنې تر دریو او د کوچني مقیاس کان کیندنې تر پنځو څخه زیات اجازه لیکونه تر لاسه کړي او همداشان یو شرکت تر پنځو پورې د لوی مقیاس قراردادونه اخستلی شي خو په دې شرط چې د ټولو قراردادونو ساحه له 250 کیلومتر مربع څخه زیاته نه شي، په دې توګه ویلي شو چې تقریبا 1000 شرکتونه د کان کیندنې په بیلا بیلاو برخو کې کار کوي.

د دې لپاره چې کورني پانګوال و هڅول شي او د هېواد خصوصي سکټور پیاوړی شي د کانونو او پټرولیم وزارت پالیسي، دا ده چې د حرفوي کان کیندنې او ساختماني موادو کان کیندنې جوازونه یواځې افغان پانګوال ته ورکړي او بهرني شرکتونه نشي کولی په دې برخه کې پانګونه وکړي، همدا شان د کوچني مقیاس کان کیندنې په برخه کې لومړیتوب افغان پانګوالو ته ورکول کیږي که چیرې بهرني شرکتونه په دې برخه کې علاقمند وي نو د داخلي شرکت سره په شریکه چې له 50 سلنې یې سهم لوړ وي کولی شي پانګونه وکړي د لوی مقیاس قرار دادونه بهرنیو او کورنیو پانګوالو ته په قرار داد ورکول کیږي خو هغه بهرنیو شرکتونو ته لومړیتوب ورکول کیږي چې افغان شریکوالان ولري. د ګاونډیو هېوادونو په ګډون د منځنۍ اسیا، منځني ختیځ، اروپا او حتی امریکایي شرکتونه د کانونو قرار دادونه لري او په دې برخه کې یې پانګونې کړي دي.

4 دا چې په هېواد کې سرا سري امنیت دی، د افغانستان د اسلامي امارت سیاست اقتصاد محوره دی او فساد له منځه تللی دی نو کورني او بهرني پانګوال لېواله شوي دي چې د کانونو په سکټور کې پانګونه وکړي، وزارت په تېرو دوه کلونو کې د پانګونې د چارو اسانتیا او سوداګرو د اسنادو د طی مراحل کولو د تیزولو لپاره یو لړ کړنلارې چمتو کړي دي او دا پروسه یې ډیجټلي کړې ده چې په منظم ډول د وزارت د رهبري لخوا څارل کیږي تر څو ډاډ تر لاسه کړي چې د مراجعینو اسنادو ته په وخت رسیدنه شوي ده او په وخت اجرا شوي دي. د دې ترڅنګ د اړونده وزارتونو لخوا بهرنیو پانګوالو ته د ویزو د اسانتیا تر څنګ چې کابل هوایي ډګر ته په رسیدو ورته ورکول کیږي د معلوماتو ورکولو مرکزونه ایجاد شوي دي، د حکومت په سطح د اداراتو ترمنځ د همغږۍ د رامنځته کولو لپاره په اقتصادي معاونیت کې د پانګونې څانګړې تخنیکي کمېټه ایجاد شوي ده چې دا وزارت یې غړیتوب لري او چاره باعث شوي ده چې کورني او بهرني پانګوال په اسانه وکړای شي خپلې طرحې وړاندې کړي او پانګونه وکړي.

5 لکه څرنګه چې ورته اشاره وشوه په هېواد کې د امنیت د ټنګیدو او فساد له منځه تللو سره ګڼ کورني او بهرني پانګوال لېواله شوي دي چې د کانونو په برخه کې پانګونه وکړي، هره ورځ په لسګونه علاقمندان وزارت ته مراجعه کوي، دلوی او کوچني مقیاس د پانګونې په اړه معلومات تر لاسه کوي. خو یو شي چې ډېر مهم دي هغه د کانونو تخنیکي استخراج دی چې وزارت دې ته جدي پاملرنه کوي وزارت یواځې هغه طرحې مني چې په مسلکیتوب، تجربه او ملي ګټو په تامین یقیني شي.



# زمرد پنجشیر منحیث متاع قیمتی که پول نقد می‌آورد

فیروزالدین محمدی

زمرد پس از الماس دومین سنگ قیمتی است که در افغانستان و بعضی از کشورهای جهان یافت می‌شود. زمرد افغانستان به نسبت شفافیت که در خود دارد در جهان بی‌نظیر است. آنچه که زمرد افغانستان را به شهرت رسانده و جهانیان به آن دلچسپی دارند، شفافیت بسیار خوب آن است. اغلب زمردها حتی زمردهای با کیفیت، دارای ترک‌های سطحی هستند، ولی زمرد افغانستان معمولاً به‌طور فوق‌العاده‌ای تمیز است و با وجود اندازهٔ کوچک که دارد ولی از کیفیت بسیار بالایی برخوردار است. معادن زمرد افغانستان در دل کوه‌های درهٔ پنجشیر و کوه‌های هندوکش در 100 کیلومتری شمال‌شرق کابل، در ارتفاع 3 تا 4 هزار متری زمین قرار دارند.

**زمرد افغانستان مخصوصاً ولایت پنجشیر قبلاً به صورت غیرقانونی و خود سر توسط زورمندان و قاچاقچیان معادن سنگهای قیمتی استخراج و به خارج قاچاق میگردید.خوشبختانه با روی کار آمدن امارت اسلامی افغانستان زمرد پنجشیر تحت مدیریت قرارگرفته، از استخراج های خودسر، غیر حرفه‌یی و قاچاق آن جلوگیری بعمل آمده، معدنکاران پس از دریافت جواز معدنکاری حرفه‌یی میتوانند فعالیت نمایند.**

در ولایت پنجشیر تا اکنون به تعداد 1600 ساحه زمرد سروی و تثبیت گردیده، برای 420 معدن زمرد جواز معدنکاری حرفه‌یی توزیع و برای ده هزار نفر از مردم پنجشیر زمینه کار نیز فراهم گردیده است.

تمام زمرد استخراج شده پنجشیر از طریق داوطلبی های آزاد (بولی) که در مقام ولایت پنجشیر برگزار میگردد بفروش میرسد و از سر تا سر افغانستان تاجران زمرد به ولایت پنجشر رفته در داوطلبی ها اشتراک مینمایند.

**طبق گزارشات واصله تا اکنون به تعداد 8 داوطلبی در پنجشیر صورت گرفته که در حدود مقدار (20000) بیست هزار قیراط زمرد به قیمت دومیلیون دالر امریکایی بفروش رسیده است که سهم امارت اسلامی افغانستان صرف 10 فیصد میباشد.**

**مقدار زمرد که در هر داوطلبی بفروش رسیده است قرار شرح ذیل میباشد:**

دواطلبی اول: مقدار (1244) قیراط زمرد به ارزش بیش از بیست و چهار میلیون افغانی به پول نقد بفروش رسید.

در داوطلبی دوم مقدار (1024.95) قیراط زمرد به قیمت مبلغ (131400) دالر امریکایی.

در سومین داوطلبی 930 قیراط زمرد به ارزش 165 هزار و 300 دالر امریکایی بفروش رسید.

و در داوطلبی چهارم در مجموع مقدار (3342.95) قیراط زمرد به مبلغ (827200) دالر امریکایی بفروش رسید.

در پنجمین داوطلبی مقدار (2059) قیراط زمرد به مبلغ (117700) بفروش رسید.

همچنان در داوطلبی ششم مقدار (3640) قیراط زمرد به ارزش مبلغ (198400) افغانی بفروش رسید.

در داوطلبی هفتم مقدار (4794.7) قیراط زمرد به ارزش مبلغ (318900) دالر امریکایی بفروش رسید.

در هشتمین داوطلبی مقدار ( 2118 ) قیراط زمرد به ارزش ( 123400 ) دالر امریکایی بفروش رسید.

قابل یاد آوری است که برای خرید زمرد پنجشیر به سطح ملی و بین المللی مشتریان خیلی زیاد است، بطور اخص تاجران ملی افغان در صدد خرید این منرال قیمتی و زینتی در خط اول قرار دارد.

# افغانستان کې د ځمکني نادره او کم پیدا عناصرو اقتصادي اهمیت لرلید



ترتیبکوونکی: دیپلوم انجنیر محمد افضل صافی د تفحص او اکتشاف عمومي رئیس

## سریــــــــزه


صنعتي هیوادونه، لکه اروپایي هیوادونه د اقتصادي فعالیتونو او پرمختګ لپاره اومه او خامو توکو ته بې کچې اړتیا لري. له شلمې پیړۍ راپه دېخوا او فعلي شرایطو او ظروفو ته په کتو سره په جهاني کچه د انرژي توکو په ځنګ کې، اومه او خامو موادو ته د اړتیا سطحه په بې سارې توګه لوړه شوې ده. په وروستیو کلونو کې د اومه موادو زیات لګښت، او په نړۍ کې دځمکې په مخ د منرالي توکو نابرابره ویش، په اروپا کې د ډېرو لویو او د لوړو سلونو کانونو په لویه پیمانه استخراج او د چین له خوا په بهرنۍ پانګونې بندیز دا ټول هغه لاملونه دي چې د اومو توکو بیې یې لوړې کړې دي او اروپا یې په یوویشتمه پیړۍ کې له زیاتو ستونزو سره مخ کړې ده. نوموړو ستونزو ته په کتو سره، اروپایي هیوادونو د (اروپا د اومه یا خامو موادو تر عنوان لاندې دارزونې پروژه ) په لاره واچوله چې د اقتصادي موضوعاتو او دعرضې او تقاضا د ګواښونو دوړاندوینې له نظره د ټولو خامو موادو له منځ څخه کمیابه او نادره عناصر (REE) خورا مهم توکي وګڼل شول. اروپا له چین څخه د کمیابه عناصرو د تورید له نظره ٪100 تړلې ده.

دې مقدمې ته په کتوسره، مقاله لومړی د کمیابه عناصرو په اړوند لنډ معلومات وړاندې کوي چې وروسته به د نادره عناصرو څخه په تکنالوژۍ کې د ګټې اخستنې په هکله څرګندونې کوي. په دریمه برخه کې په افغانستان کې د نادره عناصرو د بالقوې شتون په هکله تفصیلات ورکول کیږي او په څلورمه برخه کې نادره او کم پیدا عناصرو زیرمو ته په کتو سره د افغانستان اقتصادي لرلید ته ځای ورکړل شوی دی او مقاله به وړاندیزونو او سپارښتنو پای مومي.

## کمیابه یا نادره عناصر اړوند لنډ معلومات

په ټولیزه توګه 17 دکیمیاوي خواصو له لید خخه ورته او مشابه فلزي عناصرو ته چې 15 لانتنیدونو La، سکاندینیم Sc او ایتیریم Yt شامل دي کمیابه یا نادره عناصر ویل کیږي. د زیاتو معلوماتو په موخه همدې صفحې په لاندې برخه کې د عناصر دوره یي جدول ته مراجعه وکړئ. نوموړي عناصر په یو پراخ او وسیع طیف کې په کمیابه او نادره لرونکو منرالي او کاني توکو کې شتون لري او په یو ځایي او مجموعي توګه تر تفحص، اکتشاف او استخراج لاندې نیول کیږي. کمیابه او نادره عناصر په ټوله کې په دوه صنفونو سپک نادره عناصر(LREE) او درانه نادره عناصر(HREE) وېشل کیږي چې دویم صنف یې د ځمکې په قشر کې نسبتا په ټیټه کچه شتون لري. دکیمیاوي ورته او مشابه فلزي خواصو په درلودو سره، د کمیابه او نادره عناصرو استخراج له تخنیکي نظره یوه پیچلې عملیه شمېرل کیږي او د یوې شدیدا پیچلې عملیې غوښتنه کوي. هیره د نه وي چې ایریدیم Ir ، اوسمیم Os، تانتالیم Ta او نیو بیم Nb، سیزیم او نور داسې ورته عناصر د ځمکې د نادره عناصرو په کتارکې شمېرل کیږي چې د هیواد په مختلفو سیمو کې یې مظاهر ترسترګو کیږي او ډیر کم پیدا دي دا ځکه چې د معلوماتو له مخې د اردیم Ir تولید د دنیا په کچه د کال درې ټنه او د اوسمیم تولید په کال کې سل کیلوګرام ښودل شوی دی. که ژوند و ان شاءالله په راتلونکې ګڼه کې به د لیتیمو ترڅنګ د اوسمیم ، اریدیم او رینیم چې د پلاتین ګروپ په نوم هم یادیږي او د لوګر په افیولیتو-کرومیتو کې یې نښې نښانې لیدل شوي په مفصله توګه معلومات وړاندې شي.




پورتنی دوره یي جدول کې سپک نادره او کمیابه عنا صر او درانه کمیابه عناصر او ځینې نادره-نادره فلزات ښول شوي دي.

## له کمیابه او نادره عناصرو څخه د ګټې اخستنې څرنګوالی

کمیابه او نادره عناصرو څخه د صنعت برخه کې د میتالورجي په ګډون ( دفلزاتو د تصفیې او د فلزي الیاژو د جوړونې)،اوتوماتیکي او پتروشیمي صنایعو کې د کتلست په توګه، دهندارو او سیرامیک رنګونه، فسفورس (ال ای ډي د رڼا ګروپونه، لیزرونه، دجامدو د چارج وړ بطرې، فایبري هنداري په پراخه پیمانه ګټه پورته کیږي. سربیره، پردې له کمیابه او نادره عناصرو څخه په نورو ټوکیدونکو صنعتونو کې لکه سوپر کندکتورونو، مقناطیسي سرِولو، دهایدروجن په ذخیره کولو او په لوړه کچه په تل پاتې مقناطیسونو کې کار اخیستل کیږي. وروستنې توکې یعنې دا ډول مقناطیسونه په لوړه تخنیکې تکنالوژۍ کې لکه بادي توربینونه، څو سوچه موټرو (بطرې، سوند مواد، بریښنا ) او د موبایلونو لاسپیکرونه او میکروفونونو کې کارول کیږي. د لازیاتو معلوماتو په موخه لاندې لومړی دیاګرام ته پاملرنه وکړئ.




## په افغانستان کې د نادره او کم پیدا عناصرو د پتانشیل غورچاڼ

د لومړنیو جیولوجیکي څیړنو په بنا په هیواد کې د نادره عناصرو بیلابیل مظاهر په ګوته شوي مګر درې سیمې چې یوه یې د هلمند خانشین د کاربناتیتونو کمپلکس، دویمه یې په شمالختیز د نورستان د نادره فلزاتو پګماتیتي ساحه او دریمه سیمه یې د دایکندي دګرانیتونو کامپلکس په نسبتا کره توګه مطالعه شوي دي چې هر یو د دې مظاهرو اړوند لنډ معلومات په لاندې ډول سره وړاندې کیږي.

## ۱- خانشین د کاربناتیتونو کمپلکس کې د ځمکې نادره عناصر

د خانشین د القلي ډبرو کمپلکس د ښکتنی ځلورمي دورې پورې اړه لري چې شدیدا تخریب شوي او د ولکانیکي طبقه اې جوړښت په بڼه بدل شوی او له توفونو، اګلومیراتونو، او کاربوناتیتي نیمه ولکانیکي ناریه ډبرو څخه جوړ شوی دی. دجیولوجیکي ساختمانونو او لیتولوژیکي لا زیاتو معلوماتو په موخه لاندنې 2 شکل/نقشې ته پاملرنه وکړئ. د کاربوناتیتي ډبرو اصلي ډولونه د سووایت، بیرایت، انکرایت- فلورایت، الویکایت او اړوند توفونه او اګلومیراتونه دي. ناریه القلي ډبرې له ځمکنی نادره عناصرو، یورانیم، سترانیشیم، فلورین، فاسفورس، نیوبیم او سرب نه بډایه دي. د کاربناتیتونو په کمپلکس کې فاسفیت د اپاتیت په بڼه شتون درلود چې په خانشین کې هم لیدل کیدای شي. د اپاتیت کانسنترات معمولا په زینولیتونو کې چې له مګنیتی- اپاتیت او الویکیت څخه جوړ دی له 8.3٪ سره لیدل شوی دی. د اریمنکو او چیمیروف د مطالعاتو له مخې چې په 1975 کال کې ترسره کړې د خانشین کاربناتیتي کمپلکس کې د منرالیزیشن 8 زونونه تثبیت شوي دي په کاربناتیتونو پورې اړوند فاسفیتي ډبرې کولای شي زیان رسونکي فلزات لکه یورانیم او نادره عناصر ولري چې د هغو استعمال د کیمیاوي سرې په تولید کې مناسب نه دي. د پورتنیو معلوماتو په پام کې نیولو سره د ناور دښتې د ښکتنی ځلورمې دورې د ولکانیکي ډبرو په لړۍ کې د چمن د ماتې زون په اوږدو کې د خانشین په شاوخوا کې د کاربناتیتونو یا القلي سیانیتونو د تثبیت لپاره نورو اکتشافي کارونو ته اړتیا لري په ولکانیکي ډبرو کې د کاربناتیتونو د فعالیتونو د شواهدو په لړ کې او د توف تراخیت- اندیزیت- داسیت لس متره طبقه د 30٪ کاربناتیت مقدار سره چې په څو مربع کیلومترو کې په لوخو او یو بل نه جدا سیمو کې لیدل شوې.




شکل -۲. د خانشین د کاربناتیتونو نقشه

هیره دې نه وي چې د خانشین په کاربناتیتونو د علاقې وړ سیمه او په څېرمه ساحه کې د یورانیمو او ځمکې د نادرو عناصر نسبتا ښه پیژندل شوي مظاهر د لا نورو مطالعاتو لپاره یو مهم او په زړه پورې شاخص ګڼل کیږي. داړونده ناریه یا اورینو ډبرو پترولوجیکي مشخصات او د نتایجو شته معلومات د ځمکې د نادره عناصرو د مهمو زیرمو د شتون زیرې ورکوي.

## ۲- :د نورستان دنادره فلزاتو پګماتیتي ساحه

نورستان او نورستان ته څېرمه د پګماتیتي نادره فلزاتو د شتون له لید څخه یوه په زړه پورې سیمه بلل کیږي چې جیولوجیکي ساختمانونه او ورکې اړوند د ډبرو کمربندونه شمال ختیځ لور ته غزیدلي دي. یاد شوي کمربندونه له قدیمه متحولو پراتروزوي، کاربن تر قدیمه پرم او د ترياس پورتنی دورې ډبرو پورې تړاو لري چې شمال ختیځ ته د غزیدلو ماتو له خوا احاطه شوي دي. چپ لاس -3شکل ته پاملرنه وکړئ. همدارنګه د الیګوسین دورې پورې اړوند ناریه ګرانیتي ډبرې هم دجیولوجیکي ساختماني جوړښتونو غزیدا په پله پل ایښی شمال ختیځ لور ته غزیدلي دي.

ډېخواني شوروي او افغاني جیولوجستانو دتحقیقاتو له مخې په یاده سیمه کې د لیتیمو د دنیا تر ټولو لوی ذخایر شتون لري او د لیتیمو تر څنګ یو شمیر نادره فلزات لکه تنتال، نیوبیم، بریلیم، سیزیم او قلعي هم شتون لري.




۳- شکل د نورستان د نادره فلزاتو پګماتیتي دلچسپې ساحې لاربشود نقشه. دستورو علامې لویې پګماتیتی زیرمې په ګوته کوي.

## ۳- :په دایکندي کې د قلعي، ولفرام او لیتیم مظاهر

د دایکندي قلعي، ولفرام او لیتیمو لرونکي دلچسپه شمالي او جنوبي پورې د کلسیمي-القلي او نیمه القلي ناریه او عمقي ډبرو کمربند سره چې له مرکزي افغانستان څخه تیریږي موازي پرتې دي. نوموړی کمربند د هلمند مګماتیکي ډبرو د کمربند په نوم یادیږي چې د تباشیر څخه بیا تر الیګوسین دورې پورې اړوند د ګرانیتو د باتولیت د کمپلکس یوه وره برخه جوړوي. دکمربند د ننه د دې کمپلکس اړوند د ولفرام او قلعي مظاهر چې په ۴ نقشه کې ښودل شوي دي د ګرانو دیاریتونو او ګرانوسیانیتونو د واحدونو سره تړاو لري.




۴- شکل په دایکندي کې په زړه پورې دقلعي، ولفرام اولیتیم دلویو زیرموموقعیت او جیولوجیکی نقشه. دنیلی په تګاولر، کنک، چرخ او شنګ اسکان دمنرالیزیش عمده سیمي بلل کیږي. علایم او سمبولونه د قلعي –ولفرام ډول ډول مظاهر په ګوته کوي تورحروف ځایی اداري تشکیلاتو (ولسوالیو ) څخه استازیتوب کوي.

## نادره او کم پیدا عناصرو زېرمو ته په کتو سره د افغانستان اقتصادي لرلید

که له یوه پلوه چین د نړۍ ٪95 نادره عناصرو د تولیدونکي هیواد په توګه غواړي خپل صادرات کم کړي او له بلې خوا نوموړو توکو ته دنړۍ په کچه مخ په زیاتیدونکي اړتیا او لګښت، په راتلونکي کې د نادره او کم پیدا عناصرو شتون زیاتې اندیښنې را پارولې دي. په دې توګه ښایي په راتلونکي کې نادره او کم پیدا عناصرو ته د امریکې متحده ایالات، جاپان، د اروپا دا تحادیه غړو هیوادونه لاس رسی محدود او د دې توکو د لوړو قیمتونه سره مخ شي. په دې ترتیب اړینه ده چې بله سیمه کې د دې عناصرو پلټنه او انکشاف په لاره واچوي. دې هدف ته په رسېدو سره مونږ (دامریکې سروې جیولوجي) په خپل وار د افغانستان په جنوب د خان نشین په سیمه د کاربوناتیتونو په کمپلکس کې د کم پیدا او نادره عناصرو نوې او خورا مهمې زیرمې راپور او ګزارش ورکړ چې تخمیني ذخیره او زیرمه یې یو میلیون ټن ته رسیږي. نوموړې باالقوه زیرمې په یوه لرې غرنۍ سیمه کې د ناریه ډبرو په کمپلکس کې چې د وخت شوروي جیولوجستانو له خوا په 1970 کې پیژندل شوې وه موقعیت لري. نوموړي راپور د کمیابه عناصرو زیرمې جیولوجیکي جوړښت ته کتنه کړې ده، نوي جیوکیمیاوي معلومات یې برابر کړي دي او دنوموړو عناصرو د منرالیزیشن فیصدي، منرالوجیکي شراکت او تخمیني زیرمه یې مشخص کړي دي او د لا د قیقو او کره معلوماتو ترلاسه کولو په موخه دقیق اکتشاف ته اړتیا لیدل کیږي. هیره دې نه وي چې د نادره عناصرو شتون په هیواد کې په نورو سیمو کې چې ورته جیولوجیکي جوړښتونه لري ښایي له پامه ونه غورځول شي. د راپورونو له مخې په هیواد کې له دوه تر درې تریلونو امریکایي دالرو په ارزښت کاني توکي شتون لري چې غوښنه برخه یې نادره عناصر او په تیر د لیتیم عنصر پورې تړاو لري یاد شویو مواردو ته په کتو سره، د افغانستان نادره او کمیابه عناصرو مظاهر او زېرمو د اکتشاف، استخراج او پروسس او پانګونې لپاره اروپا، امریکا او چین هیوادونه باالقوه بازارونه ګڼل کېدای شي

## سپارښتنې او وړاندیزونه:

څرنګه چې معلومه ده د دې درې ګونو سیمو د نادره عناصر د مظاهرو او زیرمو ترڅنګ نور منرالي توکي او صنعتي تزئیناتي منرالونه لکه کرومایت، نفرایت، تلک، فلورایت ګرانیتونه، قیمتي او نیمه قیمتي منرالونه لکه کونسیت، تورمالین، لاجورد شتون لري او ښایي د قراردادونو په پروسه کې دې ټکي ته جدي پاملرنه وشي خو په تاسف سره بیاهم لیدل کیږي چې د ذیصلاحو محترمو سترو مقاماتو له خوا نادره عناصرو مظاهرو ته په څېرمه صنعتي او تزئیناتي کاني زیرمو ترڅنګ د سربو-جستو مظاهر په فوق العاده توګه د سړکونو او لویو لارو د ابادولو په مقابل کې شرکتونو ته په قرارداد ورکول کیږي او دا شرکتونو دا ظرفیت او تجربه نلري چې له کیندنې د مخه سیستماتیک او منظم اکتشاف ترسره کړي او ضمني ستراتیژیک او با ارزښته عناصر لکه لیتیم، تانتال، ولفرام او سره زر تثبیت کړي. بله داچې په هیواد کې د ولایاتو او ولسوالیو په کچه محلي نظارتي سیستم ډیر کمزوری دی او ځینې شرکتونه پرته له دې چې اکتشاف یې سر ته رسولی وي سمدستي له قرارداد وروسته په کان کیندنې پیل کوي، دا په خپله داکتشاف او کان کیندنې په برخه کې د ټیټ ظرفیت ښکارندویي کوي او له بلې خوا د مافیا کورنۍ او بهرنۍ کړۍ د افغان او مسلمان اولس د اغفال، فقر او له تخنیکي ټیت ظرفیت څخه غلطه استفاده کوي: کورنۍ کړۍ یوازې او یوازې د خپلو خیټو د لا پړسولو او بهرنۍ کړۍ دخپلو بانکونو ته له ناروا او غیر مشروع لارو د مالي حسابونو لاره پرانیزي. پورتنۍ څرګندونو ته په کتو په ډېر درنښت سره لاندنیو وړاندیزونو ته د محترمو سترو ذیصلاحو مقاماتو توجه راګرځوم

۱ - د ټولو هغو صنعتي منرالونو، قیمتي او نیمه قیمتي کانو او تزئیناتي ډبرو له قرارداد ورکولو څخه ډډه وشي چې دنورستان، لغمان، کنړ، دایکندي او خانشین نادره عناصر مظاهرو او کانونو ته څیرمه موقعیت لري، دا ځکه چې محلي نظارتي سیستم ډیر کم زوری دی، د بیلګې په ډول له منرالي توکو بار لارۍ

کې د نفرایت او شاپټ (سپودومن، لیتیم لرونکي منرال)پیژندل ستونزمن کار دی.

۲- شرکتونو ته دې د کرومایتو قراردادونو ورکولو په هکله که د داوطلبی له لیارې او یا د فوق العاده امرونو له طریقه وي بیاکتنه وشي او بند دې شي ددا ځکه چې د کرومایتو د میتالورژیک اهمیت ترڅنګ دنادره فلزاتو داوسمیم، اریدیم او رینیم په ګډون چې د پلاتین ګروپ په نوم هم یادیږي او د لوګر په افیو لیتو-کرومیتو کې یې نښې نښانې لیدل شوي دي.

۳- دتیر په شان دې د بهرنیانو له خوا د نادره عناصر د مظاهرو له لیدنې څخه که په هر عنوان او بهانه وي بندیز ولګیږي

۴- قرار داد ته د نادره عناصر په ورکولو سره د تیر په شان دې په کور د ننه نهایي پروسس د سرې لیکې په توګه وشمیرل شي.

۶- د ولایاتو د زونونو په کچه دولتي او د شرکت تخنیکي انجینرانو ته د اکتشاف په ساحه کې د ظرفیت جوړونې د ورکشاپونو تدویر.

## ماخذونه:

ددې مقالې په ترتیب کې له لاندنیو سرچینو څخه ګټه پورته شوې ده:

| | |
|---|---|
| A- USGS Open File Report Volume-1 2011 | الف- دامریکې د سروې جیولوجي د 2011 کال سرخلاصي فایل لومړی ټوک |
| B- Rock-n-gem –Magazine-Issue-60 htttp://www.rockngem-magazine.co.uk | ب - -د نادره – نادره عناصرو (ĬR,Os,Ru) په اړوند له لندن څخه د راک جم مجلې 60 ګڼه |
| C- MIDAS Mineral Resource of Afghanistan momp 2020 | ج- دافغانستان کاني منابع د کانونو او پترولیم وزارت مداس راپور کال 2020 |
| D- Evaluation of Exploration reports related to contracted Companies | د- دقراردادي شرکتونو د اکتشافي راپورنو ارزونه |
| E- Field Evidence | و- ساحوي شواهد |

# به تعداد 35 معادن بزرگ را با سرمایه گذاری مبلغ 10 میلیارد دالر امریکایی به قرارداد سپرده است




خبرنگار: محمد حامد بارز

معادن افغانستان که شهرت جهانی دارد در این اواخر تمایلات سرمایه گذارن زیادی را به سطح ملی و بین‌المللی بخود معطوف ساخته است که امید است ارمان های ملت جنگ زدهٔ ما که خود کفای و ترقی وطن است تحقق پیدا کند و افغانستان به حیث یک کشور خود کفا و مترقی در جهان به کاروان ترقی و تمدن جهانی متوصل گردد ان شاءالله بعد از استخراج و بهره برداری از معادن گوناگون کشور و سرمایه نهفته زیر زمینی از مزایای آن مستفید خواهیم شد.

این مطلب را محمد امید خرم رئیس معادن بزرگ طی مصاحبه به خبرنگار مجله ارایه نموده و علاوه نمود که در حال حاضر معادن که سروی، داوطلبی و قراردادهای اکتشاف و استخراج آن از هر وقت دیگر به شکل کمپاین مبدل گردیده جریان دارد. و توجه سرمایه گذاری در منرال های مختلف به شکل کتگوری آغاز شده است.

وی افزود: این ریاست یکی از کلیدی ترین ریاست ها بمنظور جلب و جذب سرمایه گذاری های بزرگ در سکتور معادن ایجاد گردیده است . مسؤولیت ایجاد هماهنگی میان وزارت و نهاد های ذیربط جهت دریافت و فراهم سازی معلومات فنی بمنظور حفظ ستندرد ها برای تطبیق پروژه های معادن بزرگ بر اساس مواد معدنی و مطالعات ارزش زنجیره ای جهت شناسایی پروژه های معدنکاری به مقیاس بزرگ می باشد.

همچنان: از وظایف دیگری این ریاست جمع آوری تحلیل و ارزیابی راپور های جیولوجیکی و اخذ موافقه ادارات ذیربط و ارایه معلومات ترتیب اسناد داوطلبی پروژه های معدنکاری به مقیاس بزرگ ، اعلان پروژه های معادن بزرگ، ارزیابی اسناد اظهار علاقه مندی، ارزیابی پروپوزلها، مذاکرات با داوطلب های برتر و ریزرفی و عقد قرارداد پروژه های معدنکاری به مقیاس بزرگ میباشند.

هماهنگی جهت دریافت برنامه های اکتشافی و بهره برداری، ارزیابی آنها، صدور و یا تجدید جواز اکتشافی و یا جواز بهره برداری به دارندگان قراردادها معادن بزرگ، نظارت از فعالیت های قراردادی مطابق به مواد قرارداد همکاری در قسمت فعالیت های از قبیل استملاک زمین، سروی اجتماعی و محیط زیستی و حصول اطمینان از تطبیق قراردادها مطابق اسناد تقنینی را انجام میدهند.

با در نظر داشت مبرمیت، مثمریت و بمنظور آماده ساختن شرایط مناسب کاری مکلفیت های این ریاست در قبال قراردادهای معادن بزرگ و فراهم آوری تسهیلات لازم و هماهنگی در مورد تحقیق پروگرام های مورد نیاز برای قراردادها و نظارت از مکلفیت های قراردادی ها در قبال پروژه ها و گزارش دهی به مقام محترم وزارت در چوکات وزارت معادن و پترولیم ایجاد گردیده است.

این ریاست در سال 1398 تاسیس گردیده تا حال بتعداد(5) قرارداد عقد داشتند. مسوولین سابق اینریاست در سال مالی 1402 صرف(9) پروژه معدنکاری به مقیاس بزرگ را در نظر داشتند که به اعلان داوطلبی و طی مراحل نمایند.

یکی از مهمترین و اساسی ترین پایه های اقتصاد در هر کشوری منابع طبیعی و ذخایر زیر زمینی آن بشمار میرود؛ از آنجائیکه نقش معادن و منابع در رشد اقتصادی هر کشور انکار ناپذیر است بدون تردید بهره گیری از معادن در افغانستان نیز عمل کاملاْ بجا و مهم و متضمن رشد متداوم اقتصادی افغانستان محسوب میگردد که باید با آن به دور از هرگونه غرض سیاسی و یا هم بیماری روانی، برخورد ملی صورت گیرد. از گذشته هاست که افغانستان به عنوان کشور که بیشترین ذخایر و ثروت های زیر زمینی را در سینه اش نهفته دارد، شناخته شده ،ولی با این همه این سرزمین غنی و سرشار از منابع طبیعی و ذخایر زیر زمینی یکی از کشور های فقیر بشمار میرود و مردمان آن کمترین عاید سرانه را در مقایسه با سایر کشور های جهان رقم میزنند و معلومدار است که این کشور به شدت به کمبود سرمایه رو به رو است که بهره گیری از این منابع میتواند در رشد متداوم اقتصادی بهترین راه ها و روش پسندیده تلقی گردد.

رئیس معادن بزرگ: تعداد(9) پروژه معدنکاری به مقیاس بزرگ در ولایات مختلف کشور موقعیت دارند که پروسه داوطلبی آن ختم و با شرکت های ملی و بین المللی عقد قرارداد صورت گرفته است. بتعداد (5) پروژه معدنکاری به مقیاس بزرگ که تمام پروسه داوطلبی آن ختم گردیده است در آینده با شرکت های محترم عقد قرارداد میگردد.

قابل تذکر است که به تعداد(11) پروژه معادن بزرگ در مرحله داوطلبی قرار دارند در آینده نزدیک مرحله داوطلبی و مذاکرات آن ختم و آماده قرارداد میگردند به تعداد (12) پروژه معدنکاری به مقیاس بزرگ قبل از تاسیس این ریاست توسط ریاست کادستر صورت گرفته بود و آن ریاست محترم مدیریت مینمود اکنون مدیریت(13) پروژه ها مطابق حکم اسناد تقنینی توسط اینریاست سپرده شده است وی علاوه کرد: مطابق قانون معادن اشخاص حقیقی و حکمی در قدم نخست اگر بخواهند که در پروسه داوطلبی پروژه های معدنکاری به مقیاس بزرگ اشتراک نمایند مکلف اند جواز سرمایه گذاری در سکتور صنعت معدنکاری که توسط اداره محترم ثبت مرکزی و مالکیت فکری وزارت صنعت و تجارت صادر شده و در آن مشخص شده باشد که شخص فعالیت های مرتبط با صنعت معادن را انجام داده میتواند و دوم مسئله اینکه دفتر فعال در داخل کشور داشته باشند. بدین اساس مطابق مواد فوق هر شرکت داخلی و یا خارجی که جواز و دفتر به داخل کشور داشته باشند میتوانند در پروسه داوطلبی اشتراک نمایند. یکتعداد پروژه هایکه عقد قرارداد گردیده است اکثریت قراردادها با شرکت های داخلی عقد گردیده است ولی سهمداران و شرکای آنها از کشور های مختلف (ایران، ترکیه و چین) میباشند. از جمله دو پروژه معدنکاری به مقیاس بزرگ طلا سمتی ولایت تخار به شرکت استخراج و پروسس سایر معادن چینا افغانستان ده یون لونگ زیرن و پروژه مس کابل – لوگر (عینیک 2) با شرکت صنعتی تویار صورت گرفته است. مالک آن تبعه کشور چین میباشند و سایر پروژه های ما سهمدار اصلی آن افغانها و شرکا آنها از کشورهای (ایران ، ترکیه، قطر و چین) میباشند.

**همچنان افزود:** تا اکنون در حدود 30 قرارداد از معادن مقیاس بزرگ به شرکت های داخلی و خارجی به قرارداد سپرده شده که شامل معادن آهن، طلا، مس، ذغال سنگ، فلورایټ، کرومایت، مرمر، تراورتین و پروژهای سمنت می باشد که در ولایات پروان، هرات، کندهار، غور، سمنگان، سرپل، تخار، لوگر و بغلان موقعیت دارد.

| شماره | اسم شرکت | ساحه | نوع منرال | ولسوالی | ولایت | میعاد قرارداد |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | نجرل ستون | لولنج سرخ پارسا | تراورتین | سرخ پارسا | پروان | 30 |
| ۲ | نجرل ستون | کنر-ننگرهار | سنگ مرمر | کنر-ننگرهار | کنر-ننگرهار | 30 |
| ۳ | سلکرود ماینګ | شیدا | مس | شیدا | هرات | 30 |
| ۴ | استخراج و پروسس معادن بلال مدثر حبیب | نایک | ذغالسنگ | اوبه | هرات | 3 |
| ۵ | معدنکاری احمد نبی زاده | شوراندام | فابریکه سمنت | دامان | کندهار | 30 |
| ۶ | استخراج معدن وطن درخشان | بلاک اول / چاه آب | آهن | غوریان | هرات | 30 |
| ۷ | لوجستگی و استخراج معدن ساحل شرق میانه | بلاک دوم / چشمه دم | آهن | غوریان | هرات | 30 |
| ۸ | استخراج معدن شمش ملی افغان | بلاک سوم/ چاه ریگ | آهن | غوریان | هرات | 30 |
| ۹ | استخراج معادن باختر فولاد ماینیگ | بلاک چهارم/چاه گز | آهن | غوریان | هرات | 30 |
| ۱۰ | افغان انویست | بلاک دوم | سرب و جست | تولک | غور | 30 |
| ۱۱ | صنعتی تویار | مس عینیک دوم | مس | کابل-لوگر | | |
| ۱۲ | استخراج و پروسس سایر معادن چینا افغانستان ده یون لونگ زیرن | سمتی | طلا | چاه آب | تخار | 5 |
| ۱۳ | گلبهار انوستمنت | زنده جان | سمنت | زنده جان | هرات | 30 |
| ۱۴ | الفلاح العالمی | جبل سراج | سمنت | جبل السراج | پروان | 30 |
| ۱۵ | معدن کاران | راشک و قوبی | ذغالسنگ | دره صوف بالا | سمنگان | تمدید 5 ساله |
| ۱۶ | انکشاف ملی | | ذغالسنگ | بلخاب | سرپل | |
| ۱۷ | برادران خالد عزیز | گزستان | ذغالسنگ | کلفگان | تخار | تمدید 5 ساله |
| ۱۸ | استخراج وطن درخشان | سبزک | ذغالسنگ | کرخ | هرات | تمدید 5 ساله |
| ۱۹ | برادران خوشک | گرمک غربی | ذغالسنگ | دره صوف بالا | سمنگان | تمدید 5 ساله |
| ۲۰ | استخراج معادن ذغالسنگ افر آسیاب | چلو | ذغالسنگ | خاکجبار | کابل | 10 |
| ۲۱ | امانیه ماینینگ | باخود | فلورایت | نیش | کندهار | 10 |
| ۲۲ | عبدالرحمن بابا | چهار آسیاب | کرومایت | چهار آسیاب | کابل | 10 سال |
| ۲۳ | میتایل ماینگ یوکی | محمد آغه وقسمت ولایت میدان وردگ ساحه بادام | کرومایت | محمد آغه وقسمت ولایت میدان ورد ساحه بادام | محمد آغه وقسمت ولایت میدان ورد ساحه بادام | 10 سال |
| ۲۴ | آستانه بابا | ولسوالی محمد آغه | کرومایت | لوگر | محمد آغه | 10 سال |
| ۲۵ | هاشمی ماینگ | محمد آغه | کرومایت | لوگر | محمد آغه | 10 سال |
| ۲۶ | هیواد برادرز | کوه صافی | کرومایت | پروان | پروان | 18 سال |

وی گفت: بتعداد 5 پروژه معادن بزرگ طی مراحل داوطلبی آن ختم و آماده قرارداد میباشند که عبارت اند از.

| بتعداد ۵ پروژه معادن بزرگ طی مراحل داوطلبی آن ختم و آماده قرارداد میباشند | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| شماره | اسم پروژه | نوع منرال | ولسوالی | ولایت | مساحت کیلو مترمربع | پروسه داوطلبی/منبع واحد | میعاد قرارداد سال | یک دوره تمدید |
| ۱ | شرکت نصیر احمد میوندی | پولی میتال | خاکریز | کندهار | 12.6132 | منبع واحد | 30 | 15 |
| ۲ | همگرایان غرب | آهن | پشتون زرغون | هرات | 16.8151 | منبع واحد | 30 | 15 |
| ۳ | مدثر آشنا و باختر یونین معدنکاری و پروسس | طلا | دوشی | بغلان | 5.34 | منبع واحد | 30 | 15 |
| ۴ | حضرت بلال خالد لمیتد | ذغال سنگ | کرخ | هرات | 1.69581 | منبع واحد | 30 | 15 |
| ۵ | استخراج و پروسس معادن علیم شاه بابا | کرومایت | کوه صافی | پروان | 4.71499 | منبع واحد | 30 | 15 |

هکذا پروژه های متذکره که در مرحله داوطلبی قرار دارد.

| پروژه های متذکره در مرحله داوطلبی قرار دارد | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| شماره | اسم پروژه | نوع منرال | ولسوالی | ولایت | مساحت کیلو مترمربع |
| ۱ | یتیم تاق | پروژه سمنت | مرکز | جوزجان | 64.937283 |
| ۲ | آهن نقره خانه و کر میرزابیگ | آهن | پریان | پنجشیر | 20.525201 |
| ۳ | کشک امین | ذغال سنگ | تولک | غور | 3.132 |
| ۴ | قلعه زال | طلا | قلعه زال | کندز | 5.975842 |
| ۵ | طلا چهلکان شهر | طلا | شهر بزرگ | بدخشان | 75.34135 |
| ٦ | یاقوت جگدلک | یاقوت جگدلک | سروبی | کابل | 6.8955 |
| ۷ | طلا ویکادور | طلا ویکادور | راغستان | بدخشان | 40.692151 |
| ۸ | سرب گاومست | سرب گاومست | مالستان | غزنی | 1.724044 |
| ۹ | کرومایت بلاک (D) | کرومایت | کوه صافی | پروان | 3.569663 |
| ۱۰ | سرب جست بلاک اول | سرب و جست | تولک | غور | 175.35 |
| ۱۱ | سرب جست بلاک سوم | سرب و جست | شهرک | غور | 210.24 |
| ۱۲ | سرب و جست بلاک چهارم | سرب و جست | شهرک | غور | 169.28 |

ریاست معادن بزرگ به منظور کنترول، نظارت بخش معدنکاری، جلوگیری از استخراج خودسر معادن و ارایه طرح موثر و مفید در رابطه به رشد و انکشاف معدنکاری تحت نام واحد معدنکاری بمقیاس بزرگ زیر چتر ریاست عموم کادستر و تنظیم منرالها بنام ریاست معادن بزرگ ایجاد گردید.

# حوزه های نفت و گاز دار افغانستان



میلاد همدرد جبارخیل

**افغانستان دارای پنج حوزه نفت و گاز میباشد :**

۱-حــوزه نفتی آمو دریا به مساحت 57،000 کیلومتر مربع.

۲-حــوزه نفتی افغان تاجک به مساحت 31،000 کیلومتر مربع.

۳-نفت و گاز خیز تیر پل – کشکه هرات به مساحت 23,317 کیلومتر مربع.

۴-حــوزه نفت و گاز خیز هلمند به مساحت 131،000 کیلومترمربع.

۵-حــوزه نفت و گاز خیز کتواز به مساحت 40،0000 کیلومتر مربع.




**حوزه نفتی آمو دریا :**

حوزه نفتی آمو دریا شامل ساحات قشقری، انگوت، آق دریا، زمردسای و بازار کمی در شمال کشور واقع ولایات جوزجان، سرپل و فاریاب که ذخیره مجموعی آن (87) میلیون بیرل نفت تخمین گردیده است.

طبق هدایت بند (5) مصوبه شماره (13) مورخ 5/4/1444 کابینه امارت اسلامی افغانستان بتاریخ 15/10/1401 قرارداد مجدد اکتشاف تولید و تقسیم هایدروکاربنهای سه بلاک نفتی حوزه نفتی آمو دریا را با حضور داشت جلالتماب محترم ملا عبدالغنی برادر معاون اقتصادی امارت اسلامی و سفیر جمهوری خلق چین با شرکت Afghchin ( Afg-Chin Oil and Gas ltd) عقد نمود.

سه بلاک گازدار حوزه آمو دریا شامل بلاک های جنگل کلان، طوطی میدان و شبرغان میباشد که اکنون ریاست تصدی افغان گاز از بلاک شبرغان استخراج گاز بطور شبانه روزی جریان داشته و نیازمندی های مستهلکین گاز (دستگاه تولید برق از گاز طبیعی بیات پاور، فابریکات کود و برق شمال و غیره) می نماید

## حوزه نفتی افغان – تاجک :

حوزه رسوبی افغان تاجک در شمال و شمال شرق افغانستان موقعیت داشته که شامل ولایات تخار، کندز، بلخ و قسماً جوزجان میباشد و به دوازده بلاک هر یک رستاق، نوآباد، خان آباد، قره باتور، قره دم، کندز، شامار، محمد جان دگر، مزار شریف، بلخ، احمد آباد و صندوقلی تقسیم بندی گردیده است و در حدود (360) کیلومتر سرحد مشترک با کشورهای ازبکستان و تاجکستان دارد مساحت حوزه متذکره 31،000 کیلومتر مربع را در بر میگیرد.

از جمله (12) بلاک های حوزه نفتی افغان-تاجک دو بلاک آن ( صندوقلی و مزار شریف)که مجموعآ دو بلاک تحت قرار داد (5298) کیلومتر مربع را احتوا مینماید.

دو بلاک صندوقلی و مزار شریف از طریق داوطلبی آزاد بین المللی فی مابین وزارت معادن و پترولیم و جانب کنسرسیوم کمپنی های ترکیش پترولیم کشور ترکیه، دراگن آیل امارات متحده عرب و شرکت غضنفر گروپ افغانستان طبق فیصله ماده (4) مصوبه شماره 24 مورخ 1/7/1392 شورای عالی وزیران دولت وقت تصویب و به تاریخ 8اکتوبر 2013 بین وزارت معادن و پترولیم افغانستان و کنسرسیوم افغان-تاجک عقد گردیده است

## حوزه رسوبی تیرپل- کشکه هرات :

حوزه رسوبی نفت و گاز تیر پل – کشکه هرات دارای مساحت 23،317 کیلومتر مربع بوده و شامل (11) بلاک میباشد که ولایات هرات و بادغیس موقعیت دارد مطابق ارزیابی های ابتدائی حوزه متذکره دارای پوتانسیل نفت و گاز به نظر میرسد

طبق هدایت مقامات ذیصلاح وزارت معادن و پترولیم قرارداد انجام سروی حوزه رسوبی تیرپل – کشکه از طریق رسانه ها و شبکه های اجتماعی وزارت معادن و پترولیم غرض جلب شرکت های علاقمند داخلی و خارجی در سکتور نفت و گاز به اعلان داوطلبی سپرده شده است

## حوزه رسوبی کتواز :

سروی حوزه رسوبی کتواز در قسمت جنوب شرقی کشور موقعیت داشته که ولایات پکتیکا و قسمت های ولایت های پکتیا و خوست را در بر میگیرد که دارای مساحت حدود(40000) هزار کیلومتر مربع میباشد

## حوزه رسوبی هلمند :

این حوزه که مساحت آن به (131,000) هزار کیلومتر مربع می‌رسد ولایات هلمند، قندهار، نیمروز، فراه و بخش از ولایت زابل را در بر میگیرد که نیاز به سروی و مطالعات تخنیکی دارد



# کانونه د اسلام له نظره

## اوله برخه

لیکنه: سیف الدین صلاح

له کومې ورځې چې الله جل جلاله انسانان پیدا کړي دهغه وخت څخه یې ورته د ژوند د تېرولو اسباب او وسائل هم برابر کړي او د رزق او نفقې دګټلو او لاسته راوړلو لپاره یې ورته ځانګړې لارښوونه کړې . د انسانانو د هدایت او لارښوونې لپاره یې خپل استازي رالیږلي او د دنیا ټول کائنات یې د انساني کرامت له مخې انسانانو ته تابع ګرځولي ترڅو انسانان په ښه توګه د خپل رب د بندګۍ حق اداء کړي او هم له هغو حقوقو څخه ځان برخمن کړي چې د خدای جل جلاله له لورې ورته ورکړل شوي او د هغه حقوقو او مکلیفتونو چې پر دغه شخص یې اداء کول او سر ته رسول لازم دي ځان پوه کړي.

الله جل جلاله اسلام دین د ټولو خلکو لپاره د یو قانون او نظام په توګه مقرر کړی چې په دغه الهي قانون کې د ټولو مخلوقاتو هر اړخیز حقوق خوندي دي.

همدا راز یې انسانان د رزق په ګټلو مکلف ګرځولي . یو شخص د بل شخص مال په ناروا او ناحقه توګه نشي ترلاسه کولای . د تجارت او د مال د حصول لپاره یې ځانګړي احکامات وضع کړي . د غلا ، دوکه ، غصب او غبن څخه یې انسانان منع کړي او دغه اعمال یې قبیح ګرځولي دي.

په دنیا کې د مال او دولت لاسته راوړلو او د اقتصادي پرمختګ تر ټولو لویه ذریعه ځمکه ده چې د ځمکې په واسطه انسانان په مختلفو لارو سره مال او شتمنۍ لاس ته راوړي چې د هغې د جملې څخه کانونه ( معادن) دي چې الله جل جلاله د دنیا د پیدا کیدو سره سم دغه معدنونه تخلیق کړي او د انسانانو د ژوند د تیرولو لپاره یې سبب او د دنیا د پرمختګ ذریعه ګرځولې.

هغه قیمتي شیان یا کانونه چې د ځمکې لاندې دي په فقه کې په دوه نومونو سره نومول شوي دي -1 معادن -2 رکاز.

که څه هم د احناف فقهاوو په وړاندې معدن او رکاز دوه مترادف الفاظ دي چې اطلاق یې په ټولو هغه قیمتي څیزونو کیږي چې د ځمکې لاندې دي د جمهور علماء وو د نظر مطابق معدنونه هغه قیمتي څیزونو ته ویل کیږي چې الله جل جلاله د ځمکې د پیدا کولو سره سم دغه څیزونه تخلیق کړي. او رکاز هغه قیمتي خزانو او مالونو ته ویل کیږي چې د تیرې زماني د خلکو لخوا په ځمکه کې ښخ شوي وي.

د معدن لفظ د عدن څخه اخیستل شوی چې معنی یې اقامه او همیشه پاتې کیدل دي.

معادن (کانونه ) د الله جل جلاله د سترو نعمتونو د جملې څخه یو ستر او لوی نعمت دي چې انسانانو ته یې د رزق او پیرزوینې په توګه ورکړي چې ذکر یې په قرآن کریم ا ونبوي احادیثو کې بار بار راغلی دی.

د معدنونو د ډولونو او شمیر دقیق علم الله جل جلاله ته معلوم دی خو د نمونې او مثال په توګه یې په قرآن کریم کې د ځینو ډولونو خبره راغلې لومړی دلته مونږ د هغو آیاتونو ذکر کوو چې د مختلفو معدنونو په اړه په قرآن کریم کې راغلي دي او بیا د نبوي احادیثو او وروسته په ترتیب وار د معادنو اړوند بحثونه څیړو.

-1 **او ل ډول معدن :** الذهب (سره زر) د سرو زرو ذکر په قرآن کریم کې په اته ځایونو کې راغلی.

{إِنَّ اللَّهَ يُدْخِلُ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ يُحَلَّوْنَ فِيهَا مِنْ أَسَاوِرَ مِن ذَهَبٍ وَلُؤْلُؤًا ۖ وَلِبَاسُهُمْ فِيهَا حَرِيرٌ } (سورة حج 23)

**ژباړه :** کومو خلکو چې ایمان راوړی او نیک عملونه یې وکړل ، الله جل جلاله به هغوی داسې جنتونو ته ننباسي چې لاندې به یې ویالې بهیږي ، هلته به هغوئ دسرو زرو په بنګړیو او مرغلرو سره سینګار کړای شي او جامې به یې وریښمینې وي.

2- سورة آل عمران (۹۱)

3- سورة توبه (۳۴).

4- سورة کهف (۳۱) .

5- سورة آل عمران(۱۴).

6- سورة فاطر (۳۳).

7- سورة زخرف(۵۳).

8- سورة زخرف(۷۱).

**دویم ډول معدن :** الفضة (سپین زر) د سپین زرو ذکر په قرآن کریم کې شپږ ځلې راغلی دی.

زُيِّنَ لِلنَّاسِ حُبُّ الشَّهَوَاتِ مِنَ النِّسَاءِ وَالْبَنِينَ وَالْقَنَاطِيرِ الْمُقَنطَرَةِ مِنَ الذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ وَالْخَيْلِ الْمُسَوَّمَةِ وَالْأَنْعَامِ وَالْحَرْثِ ۗ ذَٰلِكَ مَتَاعُ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا ۖ وَاللَّهُ عِندَهُ حُسْنُ الْمَآبِ سورة آل عمران (14)

ژباړه : د خلکو لپاره نفسي غوښتنې ، ښځې ، اولادونه ، د سرو او سپینو زیرمې ، کره اسونه ، څاروي او کروندې د ډیرې مینې وړ ګرځول شویدي . خو دا هرڅه د څو ورځینې دنیوي ژوندانه وسایل دي. په حقیقت کې چې کوم ډیر شه استوګنځی دی هغه دالله جل جلاله سره دی.

2- سورة توبه ( 34)

3- سورة زخرف ( 33)

4- سورة انسان (15)

5- سورة انسان (16)

6- سورة انسان (21)

**دریم ډول معدن :** الحدید (اوسپنه ) د اوسپنې ذکر په قرآن کریم کې پنځه ځایه شوی او یو مستقل سورة الله جل جلاله د دغه معدن په نوم نازل کړی چې سورة الحدید باندې یادیږي.

{وَأَنْزَلْنَا الْحَدِيدَ فِيهِ بَأْسٌ شَدِيدٌ وَمَنَافِعُ لِلنَّاسِ} سورة حدید (25)

**ژباړه :** او رالیږلې ده مونږ اوسپنه چې په دې سخت جنګ (قوت) دی او په کې ډیرې ګټې دي د خلکو لپاره.

2- سورة کهف (96)

3- سورة حج (21)

4- سورة سبا (10)

5- سورة اسراء (50)

**څلورم ډول معدن :** الیاقوت (یاقوت ) د یاقوت ذکر په قرآن کریم کې یوځل شوي.

{كَأَنَّهُنَّ الْيَاقُوتُ وَالْمَرْجَانُ} سورة رحمن (58)

**ژباړه :** ګواکې د جنت حورې د یاقوت په شان دي په صفایي کې او مرجان دي په سپینوالی کې.

پنځم ډول معدن : النحاس (مس / سرب ) دنحاس ذکر په قرآن کریم کې یو ځل راغلی.

{يُرْسَلُ عَلَيْكُمَا شُوَاظٌ مِنْ نَارٍ وَنُحَاسٌ فَلَا تَنْتَصِرَانِ} سورة رحمن (35)

نور بیا ---------------------------------------------------------

# فرهنګي برخه

## موري

موري چې خدای له تا پیدا کړمه
ګران یې له هر چا نه په تا کړمه
له خپله ځانه لا خبرنه ومه
چې تا له ځانه سره اشنا کړمه
په مینه مینه به دې ما ته کتل
د مینې کیف ته دې بینا کړمه
په ژبه پوه نه وم په مینه پوه شوم
پوه دې بې لفظه په معنا کړمه
ورو ورودې راوستم خبرو باندې
راغلی ګونګ وم تا ګویا کړمه
پاک به دې کړمه چې خیرن به شوم
لکه شیښه به دې صفا کړمه
خوب به دې نه و تر سحره پورې
چې لږ څه درد به په ژړا کړمه
که وطن چاڼ کړمه په مینې پسې
که لټ په لټ دغه دنیا کړم
بې ریا خاصه پاکه مینه به ستا
کله به بل زړګي پیدا کړمه
د محبت غبرګي دې ورورزلم
په عواطفو دې دانا کړمه
اشنا دې کړم له خوشحالیو سره
تا په مسکا تا په خندا کړمه

که وایم ستا غبرګي جنت وزما
پوه شوی نه یم اشتباه کړمه
جنت خو تېټ ستا له قدم لاندې دی
په اعلی حکم دادنی کړمه
رب مې دی خدای او مر بې مې ته یې
پیدا کړم خدای تاتوانا کړمه
ودرولم تا پخپلو پښو
بیا دې بلد په ګرزیدا کړمه
څومر ه ورو کی ومه لوی دې کړمه
یوه قطره وم تا دریاکړمه
د ورورولی په رابطه باندې تا
د چا روکی د چا لالاکړمه
درس ته لیږ لم تا په زار یو
په څه خواریو دې ملا کړمه
چې زلمی شومه هم دې پرې نښودم
دبل دپاره دې دادا کړمه
تا سرې کړې یمه ګراني موري
د کار سړی که کړمه تا کړمه
ستا احسانونه بې حسابه دي
ستا کوم یو حق به زه ادا کړمه
نوروته لوی تات ورو کی شه یم
ځان به ورو کی درته بیا کړمه

اروابناد ګل پاچا الفت

# غزل

لمونځ د شکراني کوه یار دا دنیا هم ښکلې ده
دلته له آدم سره حوا بي بي راغلې ده

کيف د جنتونو يې په ليو کې راوړی وو
دا ماشومه ځمکه يې په مينه پرې مينځلې ده

دلته د مريم او د عيسی زلفو خوشبو خوره
دې دنيا خوره د محمد موسکا لېدلې ده

دا رنګونه ټول په زړه کې و نغاړه مين اوسه
هره شببه ستا معشوقه تاته موسبدلې ده

بيا يو ځل ماشوم شه د مورکې الاهو واوره
دا نغمه چې اورې په جنت کې غږېدلې ده

دا ماشومان ګورې د جنت د بڼ طوطيان به وي
ځمکه يې چغار لره په کټ کټ خندېدلې ده

ستا پر سوي زړه چې پاغوندي غوندې نغمه راغله
نوش جان کاروانه څه خوږه را وربدلې ده

شاعر: پير محمد كاروان

https://www.samsoor.com/sher/3384

جمال کوټوال

# چې چېرته ډب نه وي
# هلته ادب نه وي !

دا د پښتو یو متل دی په دې مانا نه دی، چې ګنې هر ادیب ته ډب ورکول پکار دي امکان لري چې د مور، پلار او استاد نه یې ډبونه خوړلي وي، خو ترکومه ځایه چې د دې متل سم تفسیر دی هغه دا چې د ښوونې او روزنې په ډګر کې ماشومان زده کړې او سمې لارې ته د رهنمایي کولو لپاره ډب ضروري ګڼلی دی. خو کله یو نیم ډب چې په مضروب ښه ونه لګي د عکس العمل په ښودلو سره بیا د پلار او استاد ګریوان ته لاس اچوي او یا هم د زده کړې سره وداع کوي خو کله ځینې ډبونه داسې بد اثرات پرېږدي چې وهل شوي هلک د کور نه مرور شي ځان ډب ډوب غایب کړي! په اخبارونو کې ورپسې اعلانونه کېږي وایي چې زمانې ترقي کړې ده او سینما نه وروسته موزیک سنټرونه، ویډیو ګیمونه او د ساعت تېرۍ راز راز مراجع پیدا شوې دي او زیاتره ماشومان جوپې جوپې ور روان وي د دې ډب او ادب قصه نوره هم ویجاړه کړې ده.

د ښوونې او روزنې ماهران وایي چې د ښوونې ځخه روزنه مخکې ده او هیڅ بې ادبه هلک نه شي کولی خپلو زده کړو ته دوام ورکړي. معمولاً ښوونکی د روزنې دغه مسوولیت کورنۍ ته راجع کړی دی خو کورنۍ بیا وایي چې دا د مکتب وظیفه ده، چې ډب او ادب دواړه وربانديې تطبیق او ترایي کړي.

وایي چې اوس د ټولو لوبو په نسبت د کرکټ لوبې په نړیوالو کې زیات نفوذ پیدا کړی دی او عملاً زیاتره هلکانو ډانګ په لاس د ښار په کوڅو او واټونو کې د لوبې د اصولو له مخې ټیمونه او تشکیلات جوړ کړي دي او کله کله یې د ډنډې نه د جارحیت مسئلې هم را منځته کېږي میندو او پلرونو ته ګرانه ده، چې د ډب په ورکولو سره یې د ادب خواته رهنمائي کړي، ځکه چې دغه لوبه اوس د ورځې یو مضمون ګرځېدلی ده. او د کورنیو ټول غړي یې داسې احاطه کړي دي، چې له کار او روزګاره یې غور ځولي دي.



راځئ چې په دې اړه هغه واقعه درته بیان کړم چې د یو پلار او یو بوکس مین زوی ترمنځ پېښه شوې وه، وایي چې یو پلار خپل زوی ته چې د سوک وهلو اعلی درجه شهادت نامه یې اخیستې وه او هره ورځ به یې د کالیو کنډولو په ما تولو برسېره د کور کوچنیان هم په خپلو موزونو سو کانو وهل یوه ورځ یې د پلار مزاج ورته خراب شو او یوه درنه څپېړه یې ورته حواله کړه خو زوی ددې پرځای چې د پلارولی حقوق یې په نظرکې نیولي وي مقابل کې د یو مسلکي سوک په وهلو سره د پلار له دوه دېرشو غاښونو څخه سم نیمایي غاښونه دړې وړې کړل او ددې خبرې په اعلانولو سره، چې سوک یې شل کیلو ګرامه وزن لري خو د پلارولی د حق د ادا کولو په خاطر یې یوازې د لسو کیلو ګرامو سوک باندې اکتفا وکړه، د کوره یې پښې سپکې کړې.

وایي چې پلار د خپل بوکس مین زوی دې ځواکمنی ته په دې خوشحال و که چېرې له تربورانو سره یې ماته ګوډه راشي نو د یو مسلکي ضارب په توګه به ښه غوڅه وکړي خو د توقع خلاف د زوی ورزشي ادب د ټولو نه اول د ده د خولې کمانی ورماتې کړې.



خلک وایي چې پلرونه، استاذان او مشران باید کشران او ماشومان په داسې مهارت سره زده کړي او سمې معاشرې ته تشویق کړي، چې ډب ته پکې ضرورت پیدا نه شي که نه نو داسې بې ادبه هم پیدا کېږي چې د ناصح او رهنما ګریوان ته هم لاس اچوي او په تېره بیا هغه چې ورزشي اسناد ولري دفزیکي اخ وډب خطر هم ورپورې ګنده دی، چې باید په احتیاط سره عمل وشي او په دې عملیاتوکې یا د ښوونې او روزنې د پوهانو سره مشوره وشي او که د عدم تشدد خبره په کې نفي شي نو بیا دې د هغو جنګیالانو سره تماسونه ونیول شي، چې هره ورځ د مرګ ژوبلې واردات لري او د ډب او ادب خبره په کې مدغم شوې ده.

# څلور سترګې، يو نظر

نجيب الله منلی

د خوارو جنګ ځپلو خلکو ادبيات هم خوار، جنګ ځپلی وي.

د ځينو په آند خو بايد وي هم همداسې، که ادب د ټولنې هنداره وبولو نو خامخا به هغه څه منعکسوي چې ټولنه يې لري. ښه وي، که بد خو هغه هيواد چې پوره درې نسله يې د جنګ د لمبو په منځ کې زېږېدلی، ډېر بد لري او لږ ښه که افغاني شعر او کيسې ته له ورايه وګورو نو د جنګ او ورسره تړلو بدمرغيو انځور به کې خورا جوت ښکارې. په جنګ ځپلې ټولنه کې وحشت او لېونتوب له ورايه ځلېږي او نور هم څه تر شعاع لاندې راولي خو چې لږ يې په دقت وګورې د خندا، د خوشالۍ، آن د نېکمرغۍ نښې هم په کې لږې نه وي همدغه راز په خوار، جنګ ځپلي ادب کې هم، د عمومي انځور تر شا، ډېرې داسې جلوې موندل کېږي چې په دې ارزي چې ورته تم شو.

د شلمې پېړۍ د درېمې لسيزې را په دې خوا، چې افغانانو د خپل سياسي، ټولنيز، هنري ژوند يو نوی باب پرانيستی – له لوېديځ فکر او ادب سره يې لار جوړه کړې – نيږدې څلور لسيزې کابل، له خپل پيچلي او شتمن فرهنګي پسمنظر سره د ادبي او هنري پنځونو فعال لابراتوار و دلته د افغانستان له هر ګوټ ځخه د فکر او خبلا خاوندان راټول شوي وو. هغوی په خپلو کې د نظر اختلاف او ژور سياسي مخالفتونه درلودل خو په دولتي ادارو، په پوهنتون او حتی د دهمزنګ په زندان کې سره يو ځای وو، يو بل يې پېژندل، يو له بله متأثر وو او يو بل ته يې درناوی درلود. پښتو او دري ادبياتو څنګ په څنګ، په يوه خاوره کې وده کوله او له ګډو سرچينو خړوبېدل. پښتنو ليکوالو او شاعرانو د دري ادب په وده او پراختيا کې د پام وړ ونډه درلوده.

د فرهنګيانو او روشنفکرانو تر منځ دغه د مخالفت، رقابت، همکارۍ او ملګرتيا ول په ول اړيکه داسې وه چې افغاني ادب ته يې، هم په پښتو کې او هم په دري کې، خاصه افغاني بڼه ورکړې وه. د نورو ژبو ادبياتو ته خو د کم فکر وراووښت نو ځکه يې دلته هم څه نه وايم.

د شلمې پېړۍ د اتمې لسيزې له پيله، چې په هيواد کې د جنګ لمبې پورته شوې، ادبياتو او روشنفکرانو لارې سره بېلې کړې. د تاريه پرجبر د جغرافيې جبر هم غوټه شو. په کابل کې افغاني ادبياتو د خپلې بقا له پاره لارې لټولې. په پېښور کې د پښتو ادبياتو او په يو حد کې، دري ادبياتو هڅه کوله چې د سياسي زهرجنې قضا له تقاضاوو سره سره خپل هويت خوندي کړي. هلته په ايران کې، دري ادبياتو د ايران د حاکم فرهنګي نظام تر سيورې لاندې ځان ته ځای لټاوه. يو شمېر ليکوال او هنرمندان مو غرب ته ولاړل، هلته يې نوې تجربې هم وکړې، يو څه آزادي يې هم وموندله خو د وطن

شمېر لیکوال او هنرمندان مو غرب ته ولاړل، هلته یې نوې تجربې هم وکړې، یو څه آزادي یې هم ومونده خو د وطن خاورې لا ورپورې هماغسې نښتي وي.
د یووشتمې پېړۍ په لومړیو دوو لسیزو کې چې افغانان بېرته سره په خپل ټاټوبي کې راټول شول، څلور ویشت کاله جغرافیایي بېلښت او سیاسي کړکېچونو داسې فاصلې ایجاد کړې وې چې بېرته لنډول یې اسان نه وو. تر جنګ وړاندې د دې فرهنګي چاپېریال ټول استوګن په دواړو ژبو پوهېدل، یو د بل اثار یې ارزولای شول، منلو ته یې اماده وو. د جنګ په کلونو کې، نوی راټولکېدلی نسل یو ژبی شوی غوندې و، د دویمې ژبې اثار او لیکوال ورته پردي ښکارېدل. دا د ژبو ستونزه – لکه د پوټکي سرسري سوی چې درد یې د زغملو نه وي او نور هر څه له سرې هېر کړي – که څه هم سرسري وه ، خو څو کاله یې د افغان ادبیاتو د بهیر د یو کېدو مخه نیولې وه او لا هم خپل زور ښکاره کوي.
د پښتو او دري تر منځ د ادبي ژباړې مسئله، تر هغو چې لوستونکي لږ وو او دا تمه تری کېدله چې له دواړو ژبو سره به لږه – ډېره اشنایي ولري، نه مطرح کېده خو په دې وروستیو کلونو کې د تاریخ او جغرافیې د ګډ جبر رامنځ ته کړې فاصلې د لنډولو له پاره، د وخت موضوع ده په دې برخه کې زموږ تجربې لا وخت لري چې پخوالي ته ورسېږي.
دوه لیکوال د همدغو تاریخي - فرهنګي شرایطو په لمن کې را ټوکېدلي او ستر شوي دي. د دواړو واقعیت هماغه د خواز، جنګ ځپلي افغانستان واقعیت دی. جنګ، فقر، مهاجرت او د دوی زېږنده، کرکې، بې باروی، ډارونه، اندېښنې او ځینو ځایونو کې هیلې د دواړو د هنري ځغل میدان جوړوي. دوی که پر وطن وو او که د معاجرت په ستونزمنه دنیا کې، له ډول ډول محرومیتونو سره اشنا شوي او – شاید مبالغه نه وي – تر یو ځایه روږدي شوي دي. د دوی ادبي پنځونې هم د همدې تاریخي – فرهنګي ځمکې محصول دی داوړه د دې ټولنې دردونه راسپړي.
د ځمکې یوالی، د جغرافیې پر دوه والي بره خېژي د دواړو هنري تجربې که بېلې هم دي، پنځونې یې سیسره غبرګونې خویندې ښکاري.

# د ټاپي پروژې عملي چارې به د اپریل په میاشت کې پیل شي

د مجلې خبریال




د ټاپي ستره پروژه چې د ترکمنستان، افغانستان، پاکستان او هند ترمنځ د ګازو نل لیکې لېږدول دي د عملي چارو د پیل کولو لپاره یې په کابل کې د ترکمنستان سفیر خواجه عوضوف او د ټاپي اجرائیوي رئیس مراد امانوف او د کانونو او پټرولیم سرپرست وزیر شیخ الحدیث شهاب الدین دلاور تر منځ په ناسته کې د ټاپي پروژې هر اړخېز معلومات وړاندې شول او د چارو په پیل کېدو یې ټینګار وکړ.

په دې اختصاصي غونډه کې په کابل کې د ترکمنستان سفیر خواجه عوضوف په داسې حال کې چې د کانونو او پټرولیم وزارت د سرپرست وزیر هڅې یې د ټاپي پروژې د کار د ژر پیل په برخه کې مطلوبې وبللې ویې ویل: د ترکمنستان څخه افغانستان، پاکستان او هند ته د ګازو دلېږد پروژه نه یوازې د اړوندو هېوادونو لپاره حیاتي او اقتصادي ده بلکې د سیمې د هېوادونو لپاره هم د ګټې نه خالي نه ده.

ده وویل ترکمنستان په کافي اندازه چمتوالی لري چې د ټاپي سترې پروژې په عملي توګه د روان کال د اپریل په میاشت کې پیل کړي، چې طبعا څلورو واړه هېوادونه او نړیوال بانک ورسره همغږي دي دغه راز په دې ناسته کې د کانونو او پټرولیم وزارت وزیر شیخ شهاب الدین دلاور

په داسې حال کې چې د تاپي د پروژې د کار د پیل کولو او وخت معلومولو څخه د ترکمنستاني لورې مننه وکړه ویې ویل: دا یوه ملي پروژه ده چې د ملتونو په واک کې ورکول شوې ده او په حکومتونو پورې تړاو نلري له همدې امله ملتونه د تاپي پروژې د چارو پیلولو ته لېواله دي او د هر ډول همکارۍ ټېرونه یې وهلي دي.

ښاغلي دلاور وویل: افغان لورې لا دمخه دې ته چمتو والی ښودلی دی چې د ترکمنستان څخه د گازو د نل لیکې د غزولو پرمهال چې افغانستان څخه تېرېږي د نل لیکې په اوږدو کې د خلکو د کورونو او ځمکو د استملاک بندوبست وکړي او ترڅنگ یې د چارو د پیلولو په وخت کې عام وتام امنیت ونیسي.

ده وویل: د ترکمنستان، افغانستان، پاکستان او هند د مشرانو تر منځ درې ځلې په 2010 ــ 2018 کلونو کې د تاپي پروژې په اړه غونډې .کړې دي، چې دادی د کار دپیلولو چارې یې هم په اپریل میاشت کې ترسره کېږي.

د تاپي د پروژې هدف دادی چې 33 میلیونه متر مکعب گاز د ترکمنستان څخه افغانستان، پاکستان او هند ته د نل لیکې له لارې 1814 کیلومټره د گازو نل لیکه و غزوي.

دغه نل لیکه چې د هرات، کندهار او نیمروز ولایتونو نه تېرېږي په مجموعي توگه 816 کیلومټره یې په افغانستان غزېږي ددې پروژې لپاره 7 میلیارده ډالر اټکل شوي وو او هم له دې پلوه افغانستان ته د ورځیني کافي گاز د ترلاسه کولو پرته څه د پاسه څلورسوه میلیونه ډالر په کلني توگه د ټرانزیټ گټه را وړي.



# د لس میلیارده افغانیو په پانګونې سره د څلورو کانونو قراردادونو لاسلیک

د مجلې خبریال



په هغه مطبوعاتي کنفرانس کې چې له دې امله د ګڼو خبریالانو په ګډون جوړ شوی وه د کانونو او پټرولیم د سرپرست شیخ شهاب الدین دلاور د کانونو د اکتشاف او استخراج په برخه کې په ملي او نړیواله کچه د پانګوالو لېوالتیا د ستاینې وړ وبلله وویل چې دا مهال د کانونو د کیندنې چارې ښه په درز کې روانې دي هڅه کیږي د آزادې داوطلبۍ له لارې په پوره شفافیت سره یو پر بل پسې د قراردادنو لړۍ همداسې دوام پیدا کړي ترڅو د هرې ورځې په تیریدو سره کاني سکټور ته د پانګوالو د پانګې اچونې سره د غوښتنو ګراف پورته لاړ شي.

ښاغلی دلاور د څلورو شرکتونو سره د څلور کانونو د قراردادنو پانګونه څه د پاسه لس میلیارد افغانۍ اعلان کړه او دا تکل یې په اقتصادي او حیاتي لحاظ د افغانستان د خلکو لپاره زیات ګټور او په ځان بساینې د لپاره مهم ګام وباله.

ده په خپلو خبرو کې د پنجشېر د زمردو د پراخه کانونو یادونه وکړه او وویل دغلته اولس سوه د زمردو د کانونو ساحې تثبیت شوي دي چې تر دې دمه یې د زمردو د پلورلو له درکه دوه میلونه ډالر ترلاسه شوي دي او لس زره کسانو ته په کې د کار کولو زمینه برابره شوې ده.

ښاغلي دلاور د څلورو کانونو د اکتشاف او استخراج لپاره د قراردادنو په اړه وویل لومړی قراداد د هرات د ډبرو سکرو کان چې د کرخ ولسوالۍ کې موقعیت لري د حضرت بلال خالد شرکت سره لاسلیک کړ.

دغه کان چې 1.6 کیلومتر مربع مساحت لري رویالټي یو تن 2200 افغانۍ او ټولنیز خدمتونو ته یې پنځه میلیون افغانۍ ټاکل شوي دي .

د استخراج او اکتشاف ټوله پانګونه یې څه ده پاسه یو سلو یو پنځوس میلیونه افغانۍ ده چې دېرشو کالو لپاره په قرارداد ورکړل شو.

همدارنګه د بغلان ولایت د دوشي ولسوالۍ د قره زغن د سروزرو کان چې مساحت یې 5.33 کیلومتر مربع ښودل شوی او ټولنیز خدمتونو لپاره یې پنځه میلیونه افغانۍ او رویالټي ٪55 سلنه ده چې د یو سلو څلور ویشت میلیونه افغانیو په پانګونه د دیرشو کالو لپاره د مدثر آشنا او باختر یونین سره لاسلیک شو.

په همدې ټوګه د هرات ولایت د پشتون زرغون د اوسپنې کان چې مساحت یې 16.81 کیلومتره مربع دی د پنځه میلیونه افغانیو دټولنیزو خدمتونو په لګولو سربیره د اسلامي امارت ونډه یکې شل سلنه ده د یو سلو څلویښت میلیونه ډالرو په پانګونې د همګرایان غرب شرکت سره دیرش کالو لپاره تړون لاسلیک شو.

په همدې ډول د پروان ولایت د کوه صافي د کرومایټو کان چې مساحت د 4.71 کیلومتر مربع دی رویالټي 11300 افغانۍ دی د یو سلو اتیا میلیونه افغانۍ په پانګونې سره دعالیم شاه بابا او جاوید نیازي د شرکت سره د درې کالو لپاره تړون وشو.

وزیر دا هم وویل چې د جوزجان ولایت د سمنټو، ګچ او چونې، د غور د ډبرو سکرو او د کندوز د قلعه ذال کانونه هم اعلان ته چمتو شوي دي.



# در طی دو سال گذشته به تعداد 116 معادن کوچک قرارداد گردیده

شوکت علی فایق

جوازمعادن کوچک که مساحت آن اضافه از یک کیلومتر مربع میباشد از جمله معادن است که در تمام ولایات و گوشه و کنار افغانستان وجود دارد که در مجموع به تعداد 116 معادن به مقیاس کوچک به قرارداد داده شده و این سلسله ادامه دارد.

عبدالله ترین ریس معادن کوچک طی مصاحبه به خبرنگار مجله گفت: در این اواخیرمیزان تقاضای سرمایه گذاری در معادن مختلف افغانستان در سطوح ملی و بین المللی رو به افزایش است و تماس های سرمایه داران به وزارت معادن و پترولیم شاهد مدعا ماست و به همگی هویدا است.



آقای ترین طی پرسش در مورد ظرفیت های معادن خورد و برزرگ گفت افغانستان از لحاظ معادن غنی و دارای معادن متعدد است. تحقیقات زمین‌شناسی به اثبات رسانیده‌است که در افغانستان 1400 نوع منرال و سنگ معدنی شناسایی گردیده‌است در این اواخر گروهی از ناسا آمریکا با وسایل اشعهٔ لیزر توانستند معادن عمق کوه‌ها و زمین‌های افغانستان را کشف، عکسبرداری و تثبیت تقریبی نمایند. تا فعلاً 286 معدن فلزات، 5 میدان گازی در شمال، تیل مایع وسایر معدنیات کشف شده‌است این کشوربه نسبت کوهستانی بودنش دارای ذخایر معدنی متنوع و فراوان می‌باشد. طبق اظهارات اخبار اندیپندنت و سروی جیولوژی ایالات متحدهٔ آمریکا ارزش نفت و گاز افغانستان 222’892’350’000 دلار و ارزش معادن افغانستان 9’008’948’000’000 دلار ارزش مجموعی آن 9’131’840’350’000 دلار یا 9,131,840 تریلیون دلار می‌باشد.

طی دو سال اخیر به تعداد (116) قرارداد به مقیاس کوچک را از طریق رقابت آزاد و سالم در یک پروسه شفاف و عادلانه به قرارداد داده که بالای معادن متذکره در حدود هشت میلیارد افغانی سرمایه گذاری گردیده همچنان برای هفت هزار تن زمینه اشتغال زایی نیز مساعد گردیده است.

وی افزود سنگ‌های قیمتی را در افغانستان به نام احجار کریمه، احجار قیمتی یا منرال‌های قیمتی می‌گویند. استخراج این سنگ‌ها از چند هزار سال پیش تا به امروز توسط اهالی محل صورت می‌گرفت. منرال‌های با ارزش معمولاً در قسمت شرقی و شمال شرقی افغانستان زیاد متبلور شده اند. این منرال‌ها زیاد در ولایت‌های پنجشیر بدخشان نورستان و قسمت‌های هندوکش مرکزی وجود دارد. منرال‌ها و سنگ‌های رسوبی با ارزش افغانستان عبارتند از فلوریت، کانزیت،سپایر، یاقوت سرخ و کبود، لعل بدخشان، گارنیت، امارالت، اکومارین، زمرد، بیروج و انواع کورندم می‌باشد. منرال‌ها و سنگ‌های نیمه‌قیمتی عبارتند از لاجورد، توپاز، تورمالین و کوارتز می‌باشد. چهار معدن مهم این کشور یعنی معادن زمرد پنجشیر، یاقوت جگدلک، لعل بدخشان و نورستان به‌شکل غیر فنی استخراج شده به بازار هندوستان و مارکیت پاکستان به‌فروش می‌رسید. اما در حال حاضر از استخراج غیر فنی و خود سر جلوگیری صورت گرفته و بطور شفاف به اساس اصول و قانون معادن با در نظر گرفتن اصل شفافیت و از طریق رقابت آزاد و داوطلبی با شرکت های ملی و بین المللی واجد شرایط به قرارداد داده میشود و این سلسله به شدت ادامه دارد.

# د کانونو او پټرولیم وزارت د لمړي ځل لپاره د پولي تخنیک پوهنتون د تېر کال د فارغو انجنیرانو د استخدامولو ټېر وواهه

د مجلې خبریال



د کانونو او پټرولیم وزارت چې مسلکي او متخصصو کسانو ته زیاته اړتیا لري، ددې وزارت په نوښت د 1401 کال د پولي تخنیک 38 فارغان د کانونو د قراردادیانو سره په بېلا بېلو شرکتونو کې د استخدام لپاره اړونده شرکتونو سره په کار ولګیدل په دې لړ کې یوازې دوه شرکتونو چې یو یې د پنځه اویا سلنې او بل یې د 25 سلنې محصلینو په جذبولو سره د وزارت سره ژمنه وکړه.

په مطبوعاتي ناسته کې چې ددې وزارت په مطبوعاتي تالار کې جوړه شوې وه، د کانونو او پټرولیم د وزارت سرپرست شیخ الحدیث شهاب الدین دلاور چې د لومړي ځل لپاره یې د پولي تخنیک د پوهنتون د تېر کال د فارغو انجنیرانو د استخدام ټېر وواهه ویې ویل: د کانونو او پټرولیم د وزارت پالیسي داده چې د کانونو د اکتشاف، استخراج او پروسس په څانګو کې مسلکي کسان وګماري خو دا څومره نه شوه، چې د هېواد په دننه کې د پولي تخنیک د پوهنتون چاروکو د وزارت د اړتیا وړ انجنیرانو او مسلکي کدرونو د برابرولو پخه ژمنه وکړه.

ښاغلي دلاور وویل: په نورو سربېره یوازې د ډېرو د سکرو او مالګې دومره پراخه زېرمې لرو، چې په لس ګونو زره ماهرو کدرونو او ما هرو کارګرانو د جذبولو وړتیا لري.

ده په خپلو خبرو کې وویل: چې موږ د کانونو په قرارداد کې د روڼتیا، صداقت او اخلاص او په علم باندې د عمل شرط خپل نصب العین ګرځولی دی او د ملي ګټو د خوندي کولو او فساد په له منځه وړلو کې زموږ ټاکونکې مبارزه روانه ده.

وزیر په ټولو هېوادوالو په تېره بیا د کانونو په ماهرانو او کار ګرانو غږ وکړ، چې د کار کولو لپاره دې بهرنیو هېوادونو ته نه ځي او د کانونو په سکتور کې دې د کار میندلو ته منتظر اوسي او د ټولو اوزګار کسانو جذبولو پرګرام تر لاس لاندې دی.

وروسته د پولي تخنیک د پوهنتون رئیس عبدالرشید اقبال په داسې حال کې، چې ددغه پوهنتون د تېر کال د فارغانو د جذبولو له امله مننه وکړه ویې ویل: د پولي تخنیک پوهنتون چمتو دی چې هر کال د کانونو د اکتشاف، استخراج، ګاز او نفتو او ټولو کاني څانګو کې مسلکي کدرونو او انجنیرانو او مسلکي کسان وروځي او د وزارت په واک کې ورکړي.

ده ټینګار وکړ چې باید د بهرنیو متخصیصو پر ځای افغاني ماهران استخدام شي چې د پولي تخنیک پوهنتون ددې تشې د ډکولو لپاره پوره تیاري لري.

وروسته د افغان انویسټ د شرکت رئیس شیرباز کمین زاده چې په عین حال کې د افغاني صنایعو او کانونو رئیس هم دی د کانونو د وزارت دغه نوښت یې وستایه او ویې ویل: چې زموږ په وړاندیزونو وزارت ټکی په ټکی عمل کړی دی، کوچني کانونه یې افغانانو ته په قرارداد ورکړي او د هېواد په دننه کې د پروسس چارې ټولو قراردادي شرکتونو ته شرط ایښی دی.

ده وویل: د بهرنیو شرکتونو سره تړونونه زموږ په ګټه نه دي او په کار ده، چې په داخل کې مسلکي پیاوړي کدرونه ورو ځل شي او یوازې د پوهنتونونو څخه د فراغت سندونه د اعتبار وړ ونه ګڼل شي.



## معادن گوگرد یا سلفر در افغانستان

معادن سلفر در افغانستان در میان آبهای گرم معدنی و هم به شکل جامد میباشد. معمولا معادن سلفر جامد در سطح زمین به عمق بین 150 تا 200 متر قرار دارد. مهمترین و بزرگترین معادن سلفر افغانستان در کوه البرز ولسوالی چمتال ولایت بلخ و معدن سلفر شرین تگاب ولایت فاریاب میباشد.ه

موارد قابل استفاده: در تولیدات کیمیاوی، گوگردسازی، زراعت و غیره وزن مخصوص: (2،0-2،1)

درجه سختی: (2)

رنگ: زرد



## تالک Talk

فورمول کیمیاوی : $Mg_3 Si_4 O_{10} (OH)2$

درجه سختی (1)

وزن مخصوص آن (2/7-8/2)

تالک در ولایتهای ننگرهار، کابل، پروان، کاپیسا، لوگر، غزنی، قندهار، میدان وردگ، کنر و بغلان تثبیت شده است.

تالک به رنگهای سبز، سفید، خاکستری و قهوه ی میباشد.

موارد استعمال آن: لوازم آرایشی، برقی و مواد کیمیاوی، ( پوش تابلیت رنگ سازی و را برسازی، سویچبورد ها وغیره.)

Islamic Emirate of Afghanistan

# Ministry of Mines and Petroleum










www.momp.gov.af

@MoMPAfghanistan

Macroryan Square, Kabul, Afghanistan

د کانونو او پټرولیم وزارت / وزارت معادن و پترولیم

Ministry of Mines and Petroleum

د اطلاعاتو او عامه اړیکو آمریت